ورځپاڼه
# هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | دتاسیس کال۱۳۲۸ لمریز | دو شنبه د ذوالحجه الحرام ۷ مه ۱۴۴۴ق کال | دچنګاښ ۵مه ۱۴۰۲ ل کال | د جون۲٦ مه ۲۰۲۳م کال | خصوصي ګڼه۶۹ مه | پرله‌پسې ګڼه۱۵۹ مه، اتمه‌دوره

د لوی اختر په مناسبت د عالیقدر امیرالمؤمنین د مبارکی پیغام

## له نړۍ سره رغنده او په متقابل احترام ولاړې اړیکې غواړو، ټول حکومتي مسؤلین دې د ولس خدمت په جدیت سره تعقیب کړي

**د لوی او بښونکي خدای په نامه**

ژباړه: یقینا موږ تا ته زښته ډېر خیر درکړی دی، نو تـه خاص دخپل رب عزوجل دپاره لمونځ کوه او (خاص) دهمده دلپـاره قرباني کوه، (دنعمتونو شکر ګذاري ته ادامه ورکړه) یقینا ستا یادداشت قطع شوی نه دی، بلکې) ستا دښـمن همدي مقطوع الذکر (یادیې قطع شـوي او مقطـوع الخیر) دي (عزیز التفاسیر جلد: ۱۳ ص: ۲۵۶).

ژبـاړه: ووایه چې یقینا زما لمونځ او زما قرباني او (بالآخـره) زما ژونداو زما مرګ خـاص الله جل جلاله لره دي چـې دټولـو عالمونـو پالونکي دي(عزیـز التفاسـیر، جلـد۴، ص: ۴۰۳).

[سُورَةُ البَقَرَة : ۱۹۶]

ژبـاړه: او حج او عمره دواړه صرف دالله جـل جلاله درضاء لپـاره تمام کـړئ........او له اللـه جل جلاله څخه وډار شئ... ۲مخ



د کورنیو چارو وزارت :

## لوی اختر ته موکلک امنیتي تدابیر نیولي



دلوی اختر په را رسېدو سره دکورنیو چارو وزارت مسئولین وايي، په ټول هیوادکې یې بشـپړ امنیتـي تدابیر نیولي دي.دوی وايي، دهیوادپه لویو ښـارونو کې یې ګڼ شـمېر امنیتي ځواکونـه او مـلي پولیـس دامنیت دټینګښت لپاره په په بېلا بېلو سیمو کې ځای پر ځای کړي دي.دکورنیو چارو وزارت مرستیال ویاندبسم الله حبیب رسـنیو ته ویـلي، چې امنیتي ځواکونـو دجوماتونو، عیدګاوو او ټولو هغو ځایونو دساتنې لپاره بشپړ چمتوالی نیولی، چـې دخلکو ګڼه ګونه په کې زیات وي.نوموړي دغه راز زیاته کړه ...۷مخ

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال او کفیل :

## د ولس ستونزو ته پر وخت رسیدنه د اسلامي امارت مسئولیت دی

دریاسـت الوزراء سـیاسي مرستیال او کفیـل مولـوي عبدالکبیر ورمه ورځ دننګرهـار ولایت دشـینوارو قومي مشرانـو او دینـي عالمانو په دغـه کتنــه کـې ډاډ ورکـړ ، چې دشـینوارو قومونه به چاتــه اجازه دننګرهار دشینوارو په ولسوالیو کې دښوونځیو او روغتیايي کلینیکونو درغونـي وړاندېزونه وکـړل او په



ولســوالیو له یو شمېر قومي مشرانو او دینــي عالمانــو سره وکتل.یـادو ورنکړي، چې دحکومت ضدکړنې تــرسره کــړي.دوی همدارنګــه وینا یې، چې په تېرو څو کلونو کې دشینوارو په سیمو کې...**۷مخ**

## ۳۸۰۰ افغان کورنۍ له پاکستانه هیواد ته راستنې شوې

ځایي چاراوکي وايي دتورخم بندر لـه لارې هیوادتـه دافغـان کډوالو دبېرته راسـتنېدو شمېر ورځ تر بلې دډېرېدو په حال کـې دي.دیادبندر دانتقالاتـو آمر بخـت جمال ګوهر باختر آژانس ته ویلي چې ورمه ورځ دتورخم بندر لـه لارې ۲۰۰ کورنۍ بېرته خپل هیوادته راسـتنې شوي په داسـي حال کې چې دغه شـمېره به هـره ورځ له ۲۰ نه تـر ۷۰ کورنیو پـورې رسـېده.نوموړي ددې لړۍ دچټکوالي یو لامل پر پېژندپاڼه درا اوښتلو اجازه بولي.

سرچینـې زیاته کړه، چې راسـتانه شـوي کډوال تر ډېره پـه ننګرهار او یـو شـمېر نور یـې پـه کونړ، لغـمان، لوګـر، ارزګان، کنـدز او هلمندولایتونـو کې ځـای پرځای کېـږي. ګوهـر دا هم وویـل : په تورخم کې دانتقالاتو آمریت اړونده IOM, هــارو او NRC په ګډون ۷ موســسـات کار کوي، چــې کډوالو سره په ترانسـپورت، مایـن پاکۍ، داشپز...۷مخ



## ترکیه له افغانستان سره د کانکور آزموینو د نویو سیستمونو د تطبیق په برخه کې مرسته کوي



دآزموینـو دمـلي اداري مشر شـیخ عبدالباقي حقاني په افغانســتان کې دترکیې سفارت له اسـتازي سره په خپل کاري دفتر کــې وکتل او ددې هیوادله لوري دافغانســتان دآزموینو ملي اداري سره ...۷مخ

## د کار او ټولنیزو چارو وزارت خبرتیا

د د کار او ټولنیــزو چارو وزار ت د عرفـې ورځــې او لــوی اختر په مناسـبت په هیواد کــې د عمومي رخصتۍ خــبر ورکــړی دی.د یاد وزارت له لوري خپره شوي خبرپاڼه کــې د ۱۴۴۴ هجري قمــري کال د منظور شوي کلیزې له مخې په ټول هیواد کــې د عرفې مبارکه ورځ او همدارنګــه د لوی اخــتر ۳ ورځې عمومي رخصتي اعلان شوې ده.

## په بغلان کې دوو شرکتونو د مرمرو کان استخراج پیل کړ

دوو شرکتونو دکانونـو او پټرولیم وزارت له هوکړې وروســته دپنځو کلونو لپاره دبغلان ددوشي ولسوالۍ په خواجه زیددره کې دمرمرو دیوه کان اسـتخراج پیل کـړ. دکانونو ریاست استازی وایي: چې دغه کان دوه بلاکونه لري او له دوو شرکتونو سره یې في تـن ۹۰۰ افغانـۍ ترون شـوی دی. ورته مهـال دبغلان والي ددې ترڅنګ چې ددغه کان پر فني استخراج ټینګار وکړ ویې ویل، چې ددې کان په استخراج سره به کان ته پر غځېدلې لاره پلونه، پلچکونه او ســړکونه هم ځایي خلکو ته جوړ شي.

## افغانستان ته د بهرنیو سیلانیانو په راتګ او عواید یې ډېر شوي

داطلاعاتـو او فرهنـګ وزارت وایــي: په تېر یــوه کال کې دبهرنیو ســیلانیانو دراتګ لــه اړخه یې نهه دېرش میلیونه افغانۍ عوایدترلاســه کړي دي. دوزارت په وینا، دکورنیو سیلانیانو په شــمېر کې هم دتېر کال په پرتله درې برابره ډېروالي راغلی او لامل یې دګرځندوی برخه کې دنویو پالیسیو جوړول او دآسانتیاوو ...۷مخ



## وزارت مهاجرین با دو موسسه تفاهمنامه همکاری امضا کرده است

وزارت امـور مهاجریــن و عودت کننده‌گان امارت اسـلامی افغانستان از امضای تفاهم‌نامه همکاری با دو موسسه امدادرسان خبر داده و گفته اســت، که این موســسـات بیش از ۴۰۰ هــزار خانواده را در بخش‌های توزیع موادغذایی، پول نقد، آموزش و حرفه تحت پوشش قرار می‌دهد. دفتر مطبوعاتی وزارت مهاجرین و عودت کننده‌گان کشور یک‌شنبه با نشر خبرنامه‌ای گفته اســت که این تفاهم‌نامه میان موســسـه‌های DRC APK، با ایــن وزارت در بخش‌های توزیع موادغذایی، پول نقد، آموزش و حرفـه ی امضا شــده اســت.این موســسـات قرار است که ۴۱۰ هزار و ۱۴۷ خانــواده نیازمنـدرا تحـت پوشش قرار دهند.گفته شده که این تفاهم‌نامه به ارزش پنج میلیون دالر امضا شــده اســت.این وزارت گفته است ...ص۷

کابل ښاریان:

## په یوه شپه او ورځ کې لس ساعته برښنا نه‌لرو



دکابـل یوشــمېر اوســېدونکي او هتیوال وايي ،چې له تېرو څو ورځو راهیسې په یوه شپه او ورځ کې څه باندې لس ســاعته برښنا نه‌لري، چې له امله یې له ګڼو ســتونزو سره لاس او ګرېـوان دي.یوشــمېر خیاطان وایي: که څه هم لوی اختر ته دګوتو په شــمېر ورځې پاتــې دي، خو په وینا یې: دبرښنا پرچوی یې کاروبار خراب کـړي او هره ورځ دبرښـنا دنشتون له امله شـپږ ساعته وزګار ناست وي.امین چې دکابل نوي ښار کې دخیاطۍ هټۍ لري، وایي: ددغه وضعیـت لـه امله هـره ورځ دوی دشـاوخوا ۲۰ جامو لـه ګنډلو پاتې وي.دی وایي: (( دې دوو ورځو کې ۶ســاعته برښــنا نه‌لرو. موږ یوازې دې دوو اخترونـو کــې کار کوو او په زیات کار سره کولای شــو ،چې خپل پورونه ادا کړو، که همداســې روان وي، نو نشــو کـولای چې دې اختر کې هم خپل کار مخته بوزو.)) دبرښــنا پرچوي څخه دشــکایتونو پــر دوام دکابل یو بل اوســېدونکي احمدفهیم هم وایي ،چې یوه شپه او ورځ کې څه باندې ۱۰ ساعته برښنا نه‌لري. دی وایــي: (( په کور کې له اتو تر لسو ساعتونو برښنا نه‌لرو او موږ بلاک...۷مخ

## د عامې روغتیا وزارت په ۱۷ ولایتونو کې دسترګو ۴۲۰۰ وړیا عملیاتونه کوي

دعامې روغتیا وزارت مسؤلین وایي ،چې دروان کال تر پایه به دهیوادپه ۱۷ ولایتونــو کــې په وړیــا توګه دســترګو ۴۲۰۰ عملیاتونــه وکړي. دیــادوزارت دســترګو درملنې آمر اغامحمدتوتاخېـل دغه څرګندونې ارزګان تــه دســترګو درملنــې یوه متخصــص ټیم سره دسـفر پر مهال کــړي دي.داغامحمدتوتاخېـل په وینــا، دهیواددټولو ولایتونو په هر روغتــون کې به دســترګو ددرملنې دایمــي مرکــز پرانېــزي او لــه دې لارې به دســترګو ناروغانو درملنه وکــړي. ده وویــل: (( روان کال کــې د۴۲۰۰ دســترګو عملیاتونــو پلان لــرو، چې دافغانســتان په ۱۷ ولایتونو کې بــه وشي. ترڅنګ به یې پــه راتلونکي کې په هر ولایت کې په ولایتي روغتونونو کې یو یو دسترګو...۷مخ

## په کونړ کې د اورلګېدنې له امله لسګونه جریبه ځنګل سوځېدلی

ځایــي چاروا‌کو دکونړ پــه پېچ درې ولســوالۍ کې داورلګېدنــې له کبله دلســګونه جریبه ځنګله دسوځېدو خبر ورکړی دی.

دیادولایــت له پېښــو سره دمبارزې اداري یو مســئول احســان الله باختر اژانــس ته ویــلي، چې په دغــې اور لګېدنه کې ۱۴ هکتــاره او ۸۰ جریبه ځنګل له منځــه تللي دی.دنوموړي په خبره اور ورمه ورځ ددې ولایت دپېچ درې ولســوالۍ دسـندرۍ او کړنګل په ځنګلونو کې رامنځته شــوی، چې لــه امله یې تــر دې وخته پــورې ۱۴ هکتاره او ۸۰ جریبه ځنګل او مالڅر سوځیدلی.

په ورته وخت کې دســیمې سلګونه ځوانــان داور دکابو کولــو په موخه سیمې ته رســیدلي.که څه هم تر دې دمــه داور لګېدنې علت نه دی معلوم شــوي، خو په ســیمه کې تیــز باداو دګرمۍ لوړه درجه ددې ســبب شوې، چې اور ډېرو سیمو ته ورسېږي.


| | |
|---|---|
| ښتیني مشران او ښتینې خبرې...! | ۲مخ |
| د حج مراسم او د مسلمانانو سیاسي رسالت! | ۳مخ |
| آداب وضوء ، نماز و دعا | ۴مخ |
| لوی اختر او د قربانۍ سپېڅلې وجیبه | ۵مخ |

## سرلیکنه

# رښتیني مشران او رښتیني خبرې...!

د راتلونکي نېکمرغه لوی اختر په مناسبت د اسلامي امارت د زعیم امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالی له لوري اختریز پیغام خپور شوی، چې پکې د اسلامي امارت د دوه کلنې واکمنۍ د لاسته راوړنو، اوسني ډاډمن امنیتي او اقتصادي وضعیت، له نړۍ سره د اړیکو او یو لړ نورو مهمو موضوعاتو په هکله رښتیني او څرګندې خبرې شوي. د اسلامي امارت د زعیم اختریز پیغام د نورو مشرانو له پیغامونو څخه په ډېر څه کې متفاوت دی، له ټولو مهم تفاوت يې په دې کې دی، چې نور مشران له ملتونو او رعیتونو سره د دروغو وعدې او ژمنې کوي، خو د امیرالمؤمنین حفظه الله پیغام له رښتینو څرګندونو او واقعیتونو څخه جوړ دی.

د اختر له مبارکۍ او د حج او قربانۍ د قبولیت له دعا وروسته د هیواد د اوسني ډاډمن او سرتاسري امنیت په هکله افغان ملت د الله تعالی شکر ته بلل شوی، د اسلامي نظام په بیا اعادې د الله تعالی حمد او ثنا ویل شوې او څرګنده شوې ده، چې د دیني شعائرو د لوړتیا او د دیني مراکزو د پراختیا او تقویې لپاره مهم اقدامات شوي دي. د تقنین، حکومتدارۍ، قضاء، اقتصاد، فرهنګ او د ژوند نورو ډګرونو کې دیني اصلاحات جریان لري. دا ټول هغه اهداف او ارزښتونه دي چې د ترلاسه کولو لپاره يې زمونږ مؤمن ولس اوږدې مبارزې کړي او لویې قربانۍ يې ورکړې دي.

د استقلال او خپلواکۍ بیا تأمین، د اسلامي اخوت او ملي وحدت ټینګښت، د قوم، ژبې او سمت په عنوان هر ډول تعصباتو له منځه وړل، د هیواد ارضي تمامیت او د ټولو سرحداتو کلکه دفاع او ساتنه او د شخصي استفاده کوونکو او زورواکو له لاسه د هیواد د ملي شتمنیو ایستل د اسلامي امارت د لاسته راوړنو په توګه یاد شوي.

د مېرمنو د حقونو په هکله هم په ډېر واضح ډول ویل شوي، چې ټول شرعي حقوق يې تامین شوي دي، د اجباري نکاح او په بدو کې يې د ورکولو په شمول له نورو ګنو رواجي ظلمونو څخه د ژغورلو په خاطر لازم اقدامات ترسره شوي دي. د ټولنې د نیمې برخې په حیث د مېرمنو اصلاح، حجاب، عفت، له اختلاط څخه مخنیوي او د اسلامي شریعت تر سیوري لاندې د باسعادته ژوند په مسیر د برابرولو په موخه مهم اقدامات شوي دي.

د سپیڅلي شریعت تر چتر لاندې د محاکمو فعالیت، د امربالمعروف او نهی عن المنکر لویې فریضې ترسره کېدل او په دې برخه کې د اسلامي دعوت له اصولو سره سم د اعتدال، مصلحت او شفقت له اصولو سره سم د ټولنې د اصلاح په مقصد اقدامات ستایل شوي او هیله ښودل شوې، چې په دې برخو کې به لا ډېر ښه او مؤثر اصلاحات رامنځته شي.

په اقتصادي برخه کې هم د افغانستان اوسنی وضعیت د ډاډ وړ بلل شوی، او د اقتصادي رکود په هکله د ټولو وړاندوینو او فرضیو ناسم ثابتېدل د الله تعالی خصوصي فضل او د اسلامي امارت حکیمانه اقدامات، اخلاص او شفافیت یاد شوي دي او یو ځل بیا پر ټولو پانګه والو غږ شوی، چې د هیواد د لا ډېر اقتصادي پرمختګ لپاره راوړاندې شي او په دې برخه کې د حکومت د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ شوی دی.

د مخدرو موادو په وړاندې د اسلامي امارت د رښتیني مبارزې یادونه هم شوې ده، چې له امله يې د نشه يي توکو کرکیله د نشت برابر ته راټیټه شوې او په دې برخه کې د هیوادوالو همکاري هم ستایل شوې ده. د اسلامي امارت له لوري د سلګونه زره جریبه غصب شویو ځمکو د تثبیت او بیرته راګرځولو په برخه کې د اسلامي امارت بې سارې اقدامات هم په ګوته شوي دي.

ټولې نړۍ او په ځانګړې توګه له اسلامي هیوادونو سره ښې او رغندې سیاسي او اقتصادي اړیکې د افغانستان په ګټه ګڼل شوې او ټینګار شوی، چې په دې برخه کې اسلامي امارت خپل مکلفیت ادا کړی دی. پر ټوله نړۍ غږ شوی، چې لکه څرنګه چې اسلامي امارت د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي، همدا ډول نوروته هم اجازه نه ورکوو چې په هیڅ بهانه او عنوان زمونږ په کورنیو مسائلو کې مداخله ولري او یا موږ ته لارښوونې وکړي.

په پای کې د اسلامي امارت ټولو چارواکو ته توصیه شوې ده، چې د حکومتدارۍ په ټولو برخو کې د مؤمن ولس د خدمت، امنیت او هوساینې لپاره خپل مکلفیتونه په جدیت سره تعقیب کړي. خپلې دروازې د ولس پر مخ خلاصې کړي، کارونه يې په احسنه او عاجله طریقه اجراء کړي، له خلکو سره هیڅکله داسې چلند ونه کړي، چې ولس ځان له مسؤلینو کم او یا پردی وبولي.

لنډه دا چې د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی اختریز پیغام پر واقعیت ولاړ دی، افغان ملت، حکومتي چارواکو او د نړۍ ټولو مسلمانانو ته پکې ارزښتناکې توصیې شوې دي او ویلی شو، چې دغه پیغام یوازې مبارکي نه، بلکې د اسلامي امارت د پالیسۍ مهمې برخې رانغاړلې وې.

# د لوی اختر په مناسبت د عالیقدر امیرالمؤمنین ...

او پوه شئ چې بې شکه الله جل جلاله چې دی عذاب يې ډېر سخت دی. (عزیز التفاسیر) .

ژباړه: حضرت انس رضي الله تعالي عنه راوي دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم ددوو ښکرونو والا پسونو (چې دهغو ښکرونه اوږده وو یا دا چې ښکرونه يې مات نه وو) او کمر (برګ یعني دتور او سپین رنګ وو) قرباني وکړه، رسول الله صلي الله علیه وسلم بسم الله والله اکبر ویلو سره پخپل لاس مبارک سره هغه ذبح کړل، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې ما ولیدل چې رسول الله دهغه پر اړخ یا په غاړه باندې پښه مبارکه ایښې وه او بسم الله والله اکبر يې ویلې (بخاري او مسلم.

په دوو برګو او ښکرورو پسونو سره يې قرباني وکړه، هغه يې پخپل لاس ذبح کړل، بسم الله يې وویله او تکبیر يې ووایه او خپله پښه يې دهغوي پر غاړو ایښې وه. رواه الترمذي و ابن ماجه

ژباړه: بي بي عایشه رضي الله تعالي عنها فرمايي،: چې رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل:

دابن ادم دنحر (دقرباني کولو دورځې) داسې هیڅ عمل نشته چې دالله جل جلاله په نزددوینې بهولو (قرباني) کولو څخه زیات محبوب وي، او (دقرباني) هغه ذبح شوي حیوان به دقیامت په ورځ له خپلو ښکرونو، وېښتانو او نوکونو سره راشي او دقرباني وینه مخکې ددې څخه چې پر ځمکه وغورځېږي (یعني دذبح کولو دارادې په وخت) په بارګاه الهي کې قبلیږي نو تاسو ددې په وجه (یعني قرباني کولو سره) خپل نفس خوشحاله کړئ.

دافغانستان مجاهداو مؤمن ولس او دنړۍ ټولو مسلمانانو ته،

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

له هر څه دمخه تاسې ټولو ته دنېکمرغه لوی اختر مبارکي وایم. الله تعالی مو قربانۍ، صدقات، حجونه، داسلام په لاره کې خدمتونه او ټول حسنه اعمال مقبول وګرځوه. آمین یا رب العالمین.

هیله مې داده چې داختر دغه مبارکې ورځې په خوشحالۍ ولمانځو. داختر لمونځ، قرباني، حج او نور ټول عبادات په احسنه طریقه ترسره کړو.

دلوی اختر مبارکې ورځې چې له یوې خوا په کې دقربانۍ وجیبه ترسره کیږي او له بلې خوا په حرمینو شریفینو کې دنړۍ له بیلابیلو هیوادونو څخه په میلیونونو مسلمانان په کې دحج مبارکه فریضه ترسره کوي، دعبادت، اخوت او قربانۍ هغه ورځې دي چې اهل اسلام اتحاداو خواخوږۍ ته رابولي او دالله تعالی لپاره دقربانۍ او ایثار احساس ورکوي.

دا چې دعبادت او قربانۍ دغه ورځې زمونږ پر ځوریدلي ولس په داسې حال کې راځي چې هیوادمو له اسلامي نظام او سرتاسري امن څخه برخمن دی، هیوادوال مو بایددالله تعالي شکر اداء کړي تر څو دلا نورو الهي انعاماتو مستحق وګرځو.

لله الحمدداسلامي امارت په حاکمیت سره اسلامي نظام اعاده شوي دي، مقدس اسلامي شریعت اعلان او تطبیق شوی دی، ددیني شعائرو دلوړتیا او دیني مراکزو دپراختیا او تقویې لپاره مهم اقدامات شوی دی. دتقنین، حکومتدارۍ، قضاء، اقتصاد، فرهنګ او دژوندنورو ډګرونو کې دیني اصلاحات جریان لري. دا ټول هغه اهداف او ارزښتونه دي چې دترلاسه کولو لپاره يي زمونږ مؤمن ولس اوږدې مبارزې کړي او لويې قربانۍ يې ورکړې دي.

په ملي کچه دافغانستان استقلال او خپلواکي یو ځل بیا تامین شوې، اسلامي اخوت او ملي وحدت ټینګ شوي، دقوم، ژبې او سمت په عنوان هر ډول تعصبات له منځه وړل شوي، د هیوادارضي تمامیت حفظ شوی او دټولو سرحداتو په کلکه دفاع او ساتنه کیږي. دهیوادملي شتمنۍ لکه ګمرګي او مالیاتي عوائد، معادن،امارتي ځمکې، ځنګلونه او نور ملکیتونه چې دملت مشترک مال دی، دشخصي استفاده کوونکو او زورواکو له لاسه ایستل شوي او دبیت المال دشتمنیو په حیث خوندي شوي.

داسلامي امارت په حاکمیت سره دمېرمنو داجباري نکاح او په بدو کې يي دورکولو په شمول له نورو ګنو رواجي ظلمونو څخه دژغورلو په خاطر لازم اقدامات ترسره شوي دي، ټول شرعي حقوق يې تامین شوي دي. دټولنې دنیمې برخې په حیث دمېرمنو اصلاح، حجاب، عفت، له اختلاط څخه مخنیوی او داسلامي شریعت تر سیوري لاندې دباسعادته ژوندپه مسیر دبرابرولو په موخه مهم اقدامات شوي دي. دښځو دبې حجابۍ او ګمراهۍ اړونددشل کلن اشغال منفي تاثیرات دختمېدو په حال کې دي. دښځو دحقوقو په اړه دشپږماده ییز فرمان په صدور سره دیوه آزاداو باعزته انسان په حیث دمېرمنو حیثیت اعاده شوی او دنکاح، میراث او نورو حقوقو دتامین په برخه کې ټول ادارات دمېرمنو په مرسته مکلفه شوي دي.

دشرعي محاکمو په فعالیت سره سپیڅلی شریعت یو ځل بیا په عملي ډول پلي شوی دی. هغه دیني احکام، شرعي اوامر، حدوداو قصاص چې دعملي اجراء امکانات يې نه وو، لله الحمداوس يې اجراء په خپلو سترګو وینو. دغه راز دامربالمعروف او نهي عن المنکر لويه فریضه عملا ترسره کیږي. په دې برخه کې داسلامي دعوت له اصولو سره سم داعتدال، مصلحت او شفقت له اصولو سره سم دټولنې داصلاح په مقصداقدامات ترسره کیږي، چې په برکت يي په ټولنه کې ورځ تر بلې اصلاح راځي او منکرات دختمیدو په حال کې دي.

په اقتصادي برخه کې ویلای شو، چې ټول هغه اټکلونه چې دلته يې دبشپړ اقتصادي سقوط او سرتاسري بحران وړاندوینه کېدله دالله تعالی په فضل غلط ثابت شوی دی. داسلامي امارت دحکیمانه اقداماتو، اخلاص او شفافیت په برکت داقتصادي سقوط مخه نیول شوې. دهیوادپه نږدې تاریخ کې په لومړي ځل هیوادپه اقتصادي لحاظ خودکفا شوی دی او دبیارغونې، زراعت، آبیارۍ، سرک سازۍ، دمعادنو داستخراج او نورو برخو کې مهم ترتیبونه پیل او تر لاس لاندې نیول شوي دي.

اسلامي امارت په اقتصادي برخه کې دلا نور پرمختګ او دهیوادوالو داقتصادي ستونزو دله منځه وړلو په مقصدپه ټولو پانګوالو او ملي تجارانو غږ کوي، چې په بیلابیلو برخو کې په سرمایه ګذاري دهیواددپرمختګ او انکشاف پر برخه کې خپل مکلفیتونه اداء کړي. اسلامي امارت ددوی امنیت او دټولو حقوقو رعایت ته ژمن دی او ټولې امارتي اداري مکلفیت لري، چې دهیواددښېرازۍ او اقتصادي پرمختګ په برخه کې پانګوالو ته لازم سهولتونه برابر کړي.

څرنګه مو چې په هیوادکې څو لسیزې جګړې تېرې شوې او په سلګونو زره یتیمان، کونډې او بې وزلي کسان راپاتې دي، اسلامي امارت ددوی دحقوقو تامین او مرستې ته کلکه ژمنتیا لري. دغه راز پر اهل خیر شتمنو هیوادوالو او په ځانګړې توګه پر خپلوانو يي غږ کوم چې بې وزله یتیمان هېر نه کړي، او دهغوی پالنې، تربیې او مرستې ته پوره توجه وکړي. دا چې له څو لسیزو جګړو وروسته په ټول هیوادکې سرتاسري امن راغلی او اسلامي نظام حاکم شوی دی، نو ټول هغه کسان چې امن ته ګواښ پېښوي له هغوی څخه مو دا غوښتنه ده چې نور په خپل هیوادکې له خپلو هیوادوالو سره دسوکالۍ ژوندپیل او دامن په ثبات کې مرسته وکړئ، دپردیو دګټو لپاره دې راغلی امن نه متضرر کوي.

دسوالګرو کسانو له سوال څخه دراګرځولو په برخه کې دپام وړ اقدامات شوي دي او زرګونو سوالګرو ته چې اړمن تثبیت شوي، داسلامي امارت لخوا مرستې ورکول کیږي، خو دحرفوي او غیر اړمنو سوالګرو دمخنیوي په برخه کې دعلماء کرامو، دمساجدو دامامانو او دنورو مؤثرو اشخاصو همکاري ته اړتیا ده، چې دسوال دبدۍ بیانولو، دپوهاوي او کار او کسب ته دهڅولو په برخه کې لاس په کار شي.

داسلامي امارت درغنده او ګټورو اقداماتو له برکته دمخدرو موادو کرکیله دنشت برابر شوې ده، چې شریفو هیوادوالو داسلامي لارښوونو له مخې دنړیوالو له تطمیع او همکارۍ پرته بدیل معیشت ته مخه کړې او دیاداقدام ګټې ورځ تر بلې مخې ته راځي، همدا راز دهر ډول نشه يي توکو پر تورید، تولیداو استعمال بندیز لګېدلي دي، چې لله الحمدزیات هېوادوال او په ځانګړې توګه ځوان قشر يي له ضرر څخه نجات موندلی دی.

داسلامي امارت ګنې اړوندې اداري دهغو هېوادوالو دعلاج په موخه لاس په کار شوي دي، چې داشغال شلن کلنه دوره کې پر مخدرو موادو او نورو نشه يي توکو معتادشوي وو، چې دروغتیا، پوهاوي او عادي ژوندته دبېرته ګرځېدو چارې يې په منظمه توګه جریان لري.

څرنګه چې دشل کلن اشغال په وخت کې دمؤمن ولس ډیر حقوق تلف شوي او دبیت المال شتمنۍ دزورواکو لخوا غصب شوي دي، اسلامي امارت ددې نقصانونو دجبیرې لپاره دغصب شویو ځمکو دبیرته راګرځولو ځانګړې کمیسیون تاکلې دي، چې تر اوسه يې په سلګونو زره جریبه غصب شوې ځمکې تثبیت او له غصب څخه خلاصې کړې دي. داچې دظلم او غصب مخنیوی یوه عمومي وجیبه ده، بناء پر ټولو هیوادوالو غږ کوم چې له غصب څخه دمخنیوي کمېسیون سره همکاري وکړي، تر څو دخلکو او بیت المال غصب شوې شتمنۍ له غصب څخه خلاصې او حق خپل حقدار ته ورسیږي.

اسلامي امارت دټولې نړۍ په ځانګړې توګه له اسلامي هیوادونو سره ښې او رغندې سیاسي او اقتصادي اړیکې غواړي او په دې برخه کې يې خپل مکلفیت ادا کړی دی. لکه څرنګه چې موږ دنورو هیوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوو، همدا ډول نوروته هم اجازه نه ورکوو چې په هېڅ بهانه او عنوان زمونږ په کورنیو مسائلو کې مداخله ولري او یا موږ ته لارښوونې وکړي.

داسلامي امارت مسئولینوته مې توصیه دا ده چې دحکومتدارۍ په ټولو برخو کې دمؤمن ولس دخدمت، امنیت او هوساینې لپاره خپل مکلفیتونه په جدیت سره تعقیب کړئ. خپلې دروازې دولس پر مخ خلاصې کړئ، کارونه يې په احسنه او عاجله طریقه اجراء کړئ، له خلکو سره هېڅکله داسې چلندمه کوئ، چې ولس ځان له مسئولینو کم او یا پردي وبولي. دا هماغه ولس دی چې دشل کلن جهادپه سلسله کې يې خپل ځان، مال، کور او اولادله مجاهدینو قربانوه او هر قسم قربانۍ ته حاضر و. اوس امارتي منسوبین په ابتلاء کې دي چې له دې ولس سره متقابلا څرنګه چلندکوي. امنیتي مسئولینو ته مې هدایت دی چې په ځانګړې ډول داختر په ورځو کې دخپل مؤمن اولس هوساینې، خدمت او خوندیتوب ته پوره توجه وکړئ. دهیوادوالو دخوشحالۍ او ارامۍ لپاره ټول لازم اقدامات ترسره کړئ. دشهیدانو، معلولینو او یتیمانو دکورنیو پوښتنه وکړئ او دخپل توان په اندازه ورسره کمک وکړئ.

مؤمنو هیوادوالو!

زمونږ او ستاسو مشترک مسئولیت جوړېږي چې دخپل اسلامي نظام ساتنه، پالنه او خدمت وکړو، دا نظام دزرګونو شهیدانو دوینو په قیمت او دمجاهدولس په خورا سترو ستړیاوو او قربانیو لاس ته راغلی، راځئ چې دساتنې لپاره يې هم ټول په اتفاق همت وکړو، لکه ورونه دیو او بل ترڅنګ ودریږو، ددښمنانو ټولې دسیسې شنډې کړو، دامنیت، سوکالۍ، آبادۍ او ولسي خدمت قدر وکړو او دلا پیاوړتیا لپاره يې لاس په کار واوسو.

دشکر ځای دی چې له هیوادڅخه مو په لسګونو زره حاجیان دحج دسترې فریضې داداء کولو لپاره بیت الله شریف ته تللي. دامارتي مسئولینو لخوا يې په پوره اهتمام سره خدمت کیږي او ټول لازم سهولتونه ورته برابر شوي دي. حرمینو شریفینو ته دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه راغلیو حجاجو څخه غوښتنه کوم، چې دټول اسلامي امت او په ځانګړي ډول زمونږ دځوریدلي ولس او هیوادلپاره دعاء ګاني وکړي، تر څو يي الله تعالی له دنیوي او اخروي سعادت او سرلوړۍ څخه برخمن کړي.

دفلسطین پر مېرمنو، ماشومانو او عامو بې دفاع مسلمانانو داسرائیلو ظلمونه په کلکو ټکو غندو او له نورو هېوادونو څخه هم غواړو چې ددې ستر بشري جنایت او وحشي مظالمو دمخنیوي په برابر خپل مکلفیت ادا کړي.

دسوډان اسلامي هېوادله خلکو او حکومت څخه مو دا غوښتنه ده چې خپلمنځي اختلافات او جنګونه ترک کړي، دیووالي، امنیت او ورورګلوۍ لپاره په ګډه کار وکړي، بلکې په مجموع کې داسلامي امت دټولو ستونزو او ناخوالو حل ددوی په یو والي او اتفاق کې دی او ددغه ستر مطلب دتر لاسه کولو په هکله هر مسلمان مکلفیت لري، چې بایدیې درک او په اخلاص او احساس سره ادا کړي، تر څو دمغرضو کړیو دتفرقې اچونې دسیسې شنډې او مسلمان ولسونه داتفاق او اسلامي اخوت له نعمت څخه برخمن شي.

په پای کې یو ځل بیا ټول مؤمن او شریف ولس ته دلوی اختر مبارکي وایم. الله تعالی دې وکړي چې دتل لپاره خپل اخترونه همداسې دبشپړې خپلواکۍ او اسلامي نظام په سیوري کې ولمانځو. والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده

# د حج مراسم او د مسلمانانو سياسي رسالت!

**ليکوال : ابن مبارک احمدزی**

يادونه: د ليکنې په پاي کې د هغو خلکو د ځواب لمنليک هم راغلی چې وايي مطلق حاجيان دې د حج پر ځای له بې وسو او بېوزلو خلکو سره مرسته وکړي او حج ته دې نه ځي او دا خبره د همدردۍ له وجې نه کوي؛ بلکې د هغه حساسيت له مخې يې کوي چې دوی يې د اسلام له ارکانو سره لري.

سربېره پر دې چې حج يوه فريضه ده؛ بلکې د امت مسلمه د ټولنيز ژوند د ښېرازۍ او سمسورتيا لپاره له ټولو ستره د تصميم ليولو مرجع هم ده.د اسلامي سياست په ډګر کې د اجماع له پاره ښه مأخذ دي. ځينې نور مسئوليتونه هم د حاجي صاحبانو په غاړه پراته دي.

د نړيوال سياست د سرکشيو او يکهتازيو د کنټرول، د امت مسلمه د محکوميت، مظلوميت او محروميت د دلايلو سپړل او د حللاره ورته پيدا کول، د استعمار د شومو هڅو له پاره يو قوت تشکيلول، د اسلامي نړۍ عمومي وضعيت څارل او وربانديې بحث کول، د نفتي زېرمو د ښه استخراج او ښه تعميل او پروسيجر له پاره پلان جوړول، د الله تعالی په ځمکه کې د جهاد په ارزښت، د جهاد په اهميت خبرې کول، د ځوان نسل د انحراف د مخنيوي له پاره اجماع ترسره کول او ... هغه مسايل دي چې بايد حاجي صاحبان وربانديې ناستې وکړي، جلسې دايرې کړي، تفاهم وکړي، په پاي کې يو پرېکړه ليک جوړ کاندي او تش په نامه ملل متحد او استعماري هېوادونو ته يې واستوي او د نه منلو په صورت کې دې ښه دروند اخطار هم ورکړي.

حج هغه فريضه ده چې مسلمان ته د دې فرصت ورکوي څو په کال کې يو ځل د ستر نړيوال اسلامي ائتلاف شاهد وي، داسې ائتلاف چې د پادشاه او رئيس لخوا نه؛ بلکې د الله تعالي له لوري را بلل شوي وي. په دې سپېڅلي مکان کې مسلمان د نړۍ له ٥ لويو وچو (قارو) څخه خپل نور مسلمانان ورونه ليدلي شي. چې هېوادونه، ژبې، رنګونه او نژادونه يې يو له بله توپير لري او يوازې د اسلام او ايمان رشته ده چې دوي وربانديې يو ځاي راغونډ شوي دي او واحد شعار يې نړۍ لړزوي چې :

(لبيک اللهم لبيک...)

دا په حقيقت کې يو اسلامي کنفرانس دي، د دغه کنفرانس جوړېدل د هر مسلمان د اميدونو غوټۍ غوړوي، او روح پکې تازه کېږي.د مأيوسۍ حالت ترې ورکېږي او يوه پياوړې اراده پکې راژوندۍ کېږي، د امت دغه اجتماع او را غونډېدل په حقيقت کې د دښمنانو پر خولې يو مضبوط سوک دي، دا يو لوي حقيقت دي چې وري/مېږه هر کله له رمې څخه را جلا شوه، لېوه ته يې ښکار او خوړل خورا آسانه کار دي، له همدې وجې حج هم د داسې يو نړيوال کنفرانس نوم دي چې د ټول شرق او غرب د کفارو زړونه په خپلو شيش محلونو کې ور لړزوي خو دوي حال نه وايي، د دې حالت پايلو ته کفار له پخوا نه متوجه شوي وو او د مخنيوي لپاره يې لازم اقدامات ترسره شوي هم دي، دا اقدامات د مسلمان نما ګانو په وسيله ترسره شول .

دا اجتماع هغې کُرې/آتش دان يا مَجمر ته ورته ده چې قومي او اقليمي انګېرنې او شعارونه په خپلو اورونو سره مړه کوي. او يوازې يو شعار پاتې کېږي چې (( انما المؤمنون اخوة)). لازمه ده چې په دغې اجتماع کې دې د اسلامي امت نخبه ګان، سياستمداران، شنونکي، پوهان او عالمان سره راغونډ شي، او په داسې يو ميکانيزم دې کار وکړي چې وکولاي شي، اسلامي امت خپلو موخو ته د رسېدلو په برخه کې رهنمايي کړي.

ټولې هغه چارې چې د اسلامي امت له روان بحران



سره تړاو ولري له ټولو ښه د حل او مطرح کولو ځاي يې حج د بيت الله دي، که موږ خپل تېر تاريخ ته ځير شو په دې ځاي کې له جناب محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم سره بيعتونه وشول. خلفاي راشدينو هم حج د ملاقاتونو او سياسي مسايلو د حل لپاره له ټولو مناسب ځاي ټاکلي و او مثبته ګټه به يې ترې اخيسته.چا به چې شکايت لاره مخامخ به يې له اميرالمؤمنين سره شريکاوه پرته له دې چې په منځ کې کوم خنډ واقع شي.

اې! ستاسو پام دی؟ د ټولې نړۍ په يوه امت يا ملت کې هم داسې يوه پديده نه شته چې د هغه امت يا ملت غړي دې په نړيواله کچه په کال کې يو ځل سره راغونډ شي، دا پديده يوازې په اسلام کې ده او دا محدوديت هم پکې نشته چې پلانکي او د پلانکي صفت خاوند به دلته ګډون کوي.دلته هر مسلمان کولاي شي په خپله خوښه او هر وخت چې وغواړي او زمينه ورته مساعده شي ګډون وکړي.

الله تعالي حج پر مسلمانانو فرض ګرځولي تر څو هغوي راشي او خپلې ګټې هلته ووينې.کله چې د کعبې په شاوخوا کې طواف کوي بايد په دې پوه شي چې د امت مسلمه د راټولېدو محور يوازې يوه قبله ده، پنځه وخته لمونځ، الله او دين د ټولو يو دي او د ژوند کړنچاره يې يوه ده او مسلمه امت بايد دا درک کړي چې يوازې د دوي وحدت او يووالي کولي شي غليمان او طواغيت په ګونډو کړي او د هغوي شوم ارمانونه له خاورو سره خاورې کړي.

حج يو داسې کنفرانس دي چې هر کال په هغه کې تقريباً تر ۲۳۰۰۰۰۰ پورې مسلمانان راغونډېږي، که حکومتونه وغواړي چې داسې اجماع جوړه کا، نه يې شي کولاي؛ خو د اسلام په سپېڅلي دين کې په يوې فريضې سره له تکليف او ستونزو پرته دا اجماع په آسانۍ سره جوړېداي شي.د حج يوه فلسفه دا ده چې مسلمانان دلته سره راټول شي، خپلې ستونزې دې مطرح کړي، د اسلامي امت پر روان حالت او د دې حالت په پايلو وغږېږي. يو او بل وپېژني. او يو تر بله نږدې شي که فرض کړو يو مسلمان په افغانستان کې ژوند کوي او بل د افريقا په سوډان کې. ته وا د دوي دواړو د ملاقات او لېدنې زمينه به چېرته برابره شي، او آيا دوي به په ژوند هم يو له بله سره ووينې؟!

دا منو چې د حجاجو د روغتيا لپاره سلګونه امبولانسونه، الوتکې او روغتونونه جوړ شوي دي(دا خو احتمالي تدابير دي)، دا منو چې حاجي صاحبانو لپاره د ژوند، خوب او خوراک عمده سهولتونه او آسانتياوې برابرې شوې دي؛ خو د حج فلسفه بيا داسې نه ده.يو د فريضې ادا کول دي او بل له دې سره په څنګ کې نور رسالتونه دي چې هر مسلمان يې په ادا کولو مکلف دي.د دغه رسالت د پر ځاي کولو لپاره خو لومړي ذهنيت جوړونه هم لازمه ده. حاجي صيب بايد د طواف، حجر الاسود د ښکلولو، عرفات کې د درېدلو په فلسفه ځان ښه پوه کړي، او پر حکومتونو هم دا لازمه ده چې د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو څخه راغليو حاجي صاحبانو ته د ناستې، د کنفرانس دايرولو او عمومي محور کې يوې ګډې فيصلې ته د رسېدو زمينه برابره کړي او همدا د اسلامي حکومت دنده او مکلفيت دي.

ولې حجاج د ، شام، عراق، يمن او نورو هېوادونو پر اشغال سترګې پټوي؟يا ولې په دې اړه چوپه خوله دي؟خپل مسئوليت يې سم نه دي پېژندلي، د حج په فلسفه نه دي پوه شوي ؟؟

ولې حاجي صاحبان د استعمار، سيکولريزم، فيوډاليزم، صهيونيزم په وړاندې اتحاد ته نشي رسېداي؟

ولې د بيت الله شريف په منځ کې څوک د سياست په اړه بحث نشي کولي؟

حج د فريضې او ځانګړو مراسمو نوم دي شک نشته؛ خو ډېر نور کارونه هم بايد په دې وخت کې وشي تاسو وګورئ د بعثت په يوولسم او دولسم کلونو کې د کفارو بيعتونه له خلفاي راشدينو وروسته د اموي خلافت ټينګښت، د عباسيانو خلافت، عثماني خلافت دا ټول چې تاسې وګورئ د قايمېدو لومړني څرکونه يې د حجاجو په همنظرۍ او فکري اتحاد کې پيدا کولاي شئ.

اسلام نه ديکتاتوري مني نه ډيموکراسي

**لمنليک:**

افغانانو! حج ته مه ځئ؛ له فقيرانو او مسکينانو سره مرسته وکړئ

دا هم د هغو کسانو منطق دي چې ځانته د ماډرنيزم سرلاري وايي او د سيکولريزم د نظريې نخبه ګان هم دوی دی.

هلکه! چې يو مسلمان خپله ټوله هستي او ټولې پيسې هم ستاسو په خوله؛ پر فقيرانو او مسکينانو ووېشي د فرضي حج حکم يې نه شي ساقطېداي.

حج خو د اسلام له پنځو بنسټونو څخه يو پوخ او مهم بنسټ دي .

او د مشکات شريف د يوه حديث محتوا داسې ده که چېرته يو مسلمان حج ته د تللو ټول اسباب او شرايط پوره کړي خو بيا هم حج ته ولاړ نه شي او الله تعالي يې پروا نه ساتي چې دا کس به يهودي ومري که عيسايي.

داسې هېڅ فقهي مسأله هم نه شته چې په ټولنه کې د فقر د شتون له امله دې د فرضي حج حکم ساقط شي.

درنښت په د يوه سر لوړي، متحد او پياوړي اسلامي امت د لېدلو په هيله. پای

# داروپا پر سفـــر مينه ځـــوانه...!

**خالقيار احمدزی**

دا چې د جمهوريت له وروستيو بيا تر اوسه په سلګونو زره افغانانو د اروپا په تکل، د هيواد پريښودو ته کار ويلی څوک يې په قاچاقي لارو تر خپلو موخو رسيدلي، څوک امريکايي اشغالګرو په خپلو الوتکو کې ورسره يووړل او څوک لا هم د خپل دغه بد بخته ستوري د راختلو خيال پلوونه د خپلو نا ليدلو خوبونو تعبيرونه بولي؛ غواړم نن په همدې تړاو يو څو ناويلې يا هم ځينې تکراري خبرې درته وکړم، هيله ده، قيمتي وخت دې د ليکنې تر پايه راسره صرف کړې.

ځوانه! لوېديځوال، داسې خوی نه لري، لکه زما او ستا کليوال تربرونه، چې پر سلګونو جريبه شته ځمکې سربېره بيا هم په يوه لوېښت پوله، خپل د تره زوی وژني او د دغه غيرت له امله ټول جايداد هم قربانوي.؛ بلکې لويديځوال برعکس، خپل ځان تنګوي، د خپل کور خونه کې ځای درکوي او هر راز تکليف ته در سره اوړه ورکوي؛ خو چې ته يې عقيده، کلتور او وضعي قوانينو ته په نګه ژمنتيا ګونډه شې.

هغوی ته که دنيا د جنت مثال دی، خو له دې يې بيا،په خپلې ککرۍ کې د اسلام په وړاندې دښمني ډېره عميقه ريښه لري.

هغوی د خپلو کلتوري مفاهيمو د ترويج او د عقيدوي اساساتو د تپلو په موخه، پر هيوادونو يرغلونه کوي، د هغوی نابغه کدرونو ته ځانګړې روزنه ورکوي او په فکري او فرهنګي برخه کې د ملتونو د تسخير لپاره بلها مصارف کوي.

ځوانه..! ښايي دا زما خبرې تکراري افواه درته ښکاري،ځکه هغوی خپلو هيوادونو کې ظاهراً په اصطلاح مذهبي آزادۍ هم خلکو ته ور کړې او د هر دين پيروان په آسانۍ سره خپلې چارې مخته وړلای شي او که يې په زوره توګه وګورو، هغوی رښتيا هم د لمونځ، روژې او نورو ورځنيو عباداتو په برخه کې پر تا کوم محدوديت نه دی لګولی؛ خو بله خوا بيا د هغو قوانينو تر سيوري لاندې چې تا يې د کوربه کفري هيواد د حاکميت په سيوري کې منلو ته غاړه ايښې، دا هرڅه يواځې خيالي انځور ګري ده.

ځوانه! تاته به معلومه وي چې اسلام يواځې عبارت له لمونځ، روژې، زکات، حج او کلمې څخه نه؛ بلکې د ولاء او براء رښتيني عقيدې ته ژمنتيا او د احکامو پلي کول يې هم له مسئوليتونو څخه دي، چې غرب کې ورته د سياسي يا توند لاري اسلام نوم ورکوي او د ترويج حق يې هېڅوک هم نه لري.

دا مهال په لوېديځه اروپا کې څه د پاسه ۱٦ ميليونه مسلمانان ژوند کوي چې ټول د ژوند له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي او د خپلو مشروعو غوښتنو له پاره هم نورو ته اړ دي.

هغوی مسلمانان د حلال رزق ګټلو ته څنګه چې لازمه ده نه پرېښودل کېږي،د شخصي قضاياوو لکه نکاح او طلاق دحل له پاره يې معلومه مرجع شتون نه لري او که يې لري هم،به بېلابېلو ډولونو ورته خنډونه را منځته کېږي،هغه مسلمانان چې په فابريکو او مؤسسو کې کار کوي، هغوی ته د لمانځه له پاره کومه رخصتي او آسانتيا نه شته،همدارنګه که مسلمانان په ښوونځيو کې پر زده کړه بوخت وي هغوی ته هم د ديني فرايضو د ادا کولو فرصت په لاس نه ورکول کېږي،د مسلمانانو ماشومان په هغه ډول چې لازمه ده، نه پرېښودل کېږي چې دينې زده کړې تر لاسه کړي،که يې تر لاسه کوي هم د اروپايانو د وضعي قوانينو په چوکاټ کې وي.

ګرانه! دوی ډېر اوږده اميدونه او ستر پلانونه لري، د بېلګې په توګه، کلونه وړاندې يوه عادي امريکايي وګړي د يوه افغاني الاصله امريکايي دا پوښتنه چې ګواکې افغانانو خو امريکا کې هېڅ هم له لاسه نه دي ورکړي او هرڅه آزادانه ترسره کوي؛ داسې ځواب کړه: «تاسو نه، ستاسو اولادونه موږ ته مهم دي، هغوي زموږ په فکري او مذهبي مکتب کې را پالل کېږي.

که تاسو هېڅ زموږ ليدلوری خپل نه کړئ، سبا همدا ستاسو اولادونه زموږ دي او د خپل ملت د تسخير لپاره وړيا او يا هم د متاع قليل پر مټ زموږ اجيرې کرايي مليشې جوړېږي. »

نو تاته وايم چې تګ دې هم پر ستونزمنو لارو دي، بيا دې زندګي هم له نامعلوم برخليک سره مخ ده، له محدودو ديني آزاديو ور آخوا د خپل اسلامي فکر حتا د ولاء او براء د واقعي داعيې د مخته وړلو په مخ کې درته ستونزې پرتې دي.

**له سياسي اړخه:**

اروپايانو او امريکا چې پر ټولو مالي ننګونو سربېره بيا هم د افغان کډوالو منلو ته زړه ښه کړی او لا يې هم د غوښتنې او جذب زغم لري، يواځنۍ موخه يې هماغه اوږدې هيلې دي.

# اختر، خوښی او احساس...!

عطاءالله مبارز

راتلونکې چهارشنبه دنېکمرغه لوی اختر ورځ ده، الحمدلله په هیوادکې سرتاسري امنیت تامین دی، په کورونو کې دجګړو پر وژل شویو دسوګ او غم مرثیې نه ویل کېږي، بلکې نور په افغان ملت کې دژوندهیلې راټوکېدلې دي.




خو اوس هم دتېرو څلورو لسیزو جګړو ناوړه اغېزې او له ماتې وروسته دلوېدیځ سیاسي او اقتصادي بندیزونه دي، چې زموږ ملت یې لا هم له یو لړ جدي ستونزو سره مخ کړی دی.اوس چې لوی اختر ته ګوتې په شمار ورځې پاتې دي، ځینې هیوادوال داقتصادي ستونزو له امله نشي کولی، چې داختر خوښۍ لکه څرنګه چې پکار دی، هغسې ولمانځي.ددې لپاره چې ټول مسلمان ملت داختر خوښۍ ولمانځي، بایدشتمن نه یوازې دقربانۍ غوښې، بلکې دکونډو، یتیمانو او بېوزلو دپوښاک او جامو غم هم وخوري.

څرنګه به هغه شتمن ته دقربانۍ خوښې او نوې جامې خوندورکړي، چې یتیم او ناچاره ګاونډی یې نهار او لوږ وي؟!راځئ چې داختر خوښي له نورو سره هم شریکه کړو، په ډېر لړ اخلاص او لګښت سره کولی شو، دخپلې سیمې دکونډو، یتیمانو او بېوزلو پر خولو خندا راولو او داختر خوښۍ ورسره شریکې کړو.

راځئ په ټول توان او ځواک سره دغه کار ته اوږه ورکړو او خپل مسئولیت سرته ورسوو.

# په بشري ټولنه کې د مېرمنو حقوق

## نهه دېرشمه برخه

شریفه نرګس

**دآواز فتنه :** ډېر وختونه ژبه خاموشه پاتې وي خو دنورو حرکاتو په واسطه داورېدو آله اغېزمنېږي . ددې اړیکې هم دنیت له خرابوالي سره تړلي او اسلام له دې څخه هم په کلکه مخنیوی کړی دی. [النور ۳۱] او هغوی دې پر ځمکه پښې دربوونکې نه ګرځي، تر څو هغه زینت چې دوی پټ کړ ی« هغه زیورات چې دوی دننه پر ځان اچولي » را څرګندنه شي ،«دهغې آواز وانه ورېدل شي .))

**دخوشبويي فتنه :** خوشبويي هم له هغو قاصدانو ده چې دیوه شریر نفس پیغام بل شریر نفس ته رسوي، دا دخبر رسولو له ټولو زیاته لطیفه ذریعه ده ، نور خو دا ډېر معمولې شی ګڼي،خو اسلامي حیا دومره حساسه ده چې دهغې په نازك طبیعت دغه لطیف حرکت هم دروندتمامېږي . هغه یوې مسلمانې ښځې ته ددې اجازه نه ورکوي چې دمعطرو کالیو په اغوستلو سره په لارو کې و ګرځي او یا په محفلونوکې ګډون وکړي ځکه چې که دهغې ښایست او دهغې زینت پټ هم پاتې شي،نو ګټه به یې څه وي؟ ځکه په فضا کې دهغې دعطرو دبوی په خپرېدو سره جذبات په خپله متحرکېږي . رسول الله (ص) فرمایي : « ترمذي باب ماجاء في طیب الرجال و النساء)) ژباړه: هره هغه ښځه چې عطر استعمال کړي او دخلکو تر منځ تېرېږي هغه بدکاره ښځه ده . بل ځای کې پیغمبر ص ویلي ( کله چې له تاسې څخه کومه ښځه مسجدته راشي، نو عطر دې نه استعمالوي )مطلب داچې دنارینه لپاره هغه عطر مناسب دي چې خوشبويي ښکاره او رنګ یې پټ وي او دښځو لپاره هغه عطر مناسب دي چې رنګ یې ښکاره او خوشبويي یې پټه وي.

**دلوڅوالي فتنه :** اسلام چې دستر په هکله دانسان دشرم او حیا څومره مکمل او سهي نفسیاتي تعبیر کړی دهغه ځواب دنړۍ په هېڅ تهذیب کې نه پیدا کېږي . نن دنړۍ دمهذبو ولسونو هم دا حال دی چې دهغو نارینه وو ته او هم دهغوی ښځو ته دجسم دکومې برخې لوڅول او بربنډول دعیب خبره نه برېښي ، هغوی لباس دزینت په خاطر آغوندي نه دستر په خاطر،خو په اسلام کې دزینت پر ځای ستر ته ډېر اهمیت ورکړو شوی . ښځې او نارینه دواړو ته یې دجسم دټولو هغو برخو دپټولو حکم ورکړی چې یو بل ته دجنسي کشش او میلان سبب ګرځي . عریاني ، لوڅوالی او بربنډتوب یو داسې بدعمل دی چې اسلامي حیا یې هېڅکله هم زغملای نه شي ، نور خو پرېږده چې اسلام دا هم غوره نه ګڼي چې ښځه او مېړه دې یو دبل تر مخ لوڅ لپړ شي . ((کله چې له تاسې څخه کوم یو خپلې بي بي ته ورشي، نو هغه ته په کار دي چې دستر لحاظ و ساتي بالکل دخرو په څېر دواړه لوڅ لپړ نه شي . )) ام المؤمنین بي بي عایشه رضي الله عنها فرمایي چې ما هېڅکله رسول الله (ص) لوڅ نه دی لیدلی. )) له دې نه ډېرشرم اوحیا داده چې په ځانته والي کې هم ځان بربنډول اسلام ته دزغم وړ نه دي . دا په دې خاطر چې الله تعالی له هر څه ډېر حق لري چې له هغې حیا وکړای شي.)) په حدیث شریف کې راغلي،چې ((اګاه اوسئ چې کله هم لوڅ و نه اوسئ، له تاسې سره دالله تعالی ملائکې ملګرې دي چې هغوی له تاسې نه بېلېږي . مګر په هغو وختونو کې چې تاسې په کې دحاجت دپوره کولو لپاره ناست یاست یا خپلو ښځو ته ورځئ ، فلهذا تاسې له هغوی شرم وکړئ او دهغوی دعزت خیال و ساتئ.)) داسلام له آنده هغه لباس ، اصلاً لباس نه دی چې بدن ترې ښکاري او ستر ترې په ډاګه را معلومېږي . رسول الله (ص)فرمایي، هغه ښځې چې لباس واغوندي او بیا هم لوڅې وي او نور خلك خپل ځان ته مایلوي او پخپله نورو ته میلان کوي او دبخت داوښ په څېر خپله غاړه دناز او نخرو کږه وږي،هغوی به هېڅکله هم جنت ته داخلې نه شي او نه به دجنت بوی و مومي .دلته موږ څو مثالونه په دې خاطر یادوو چې له هغو څخه داسلام داخلاقو معیار او دهغو داخلاقي روح اندازه و لګېږي .اسلام دټولنې چاپېریال او دهغې فضا دفحشاء او منکر له ټولو تحریکاتو پاکول غواړي . ددې ټولو تحرکاتو سرچینه دانسان په باطن کې ده . دفحشا او منکر جرائم هملته وده مومي او له هماغه ځایه ددغو کوچنیو تحریکاتو پیل صورت نیسي او په وړاندې تګ سره دستر فسادموجب ګرځي. جاهل وګړي هغه دمعمولي ګڼلو له امله له نظره غورځوي،خو دحکیمو او پوهو وګړو له نظره هغه دتمدن او ټولنې دتباه کوونکو خطرناکو ناروغتیاوو ریښې ګڼي، نو داسلام اخلاقي ښوونې په باطن کې دحیا داحساس درا پیداکولو دومره زیات کوشش کوي چې دهغې له رویه انسان په خپله دخپل نفس احتساب کوي او که دبدۍ په لور دډېر میلان پیداکولو احساس هم وکړي، نو دخپل ارادي ځواك له لارې هغه له منځه وړي.

تعزیري یا جزایي قوانین : په اسلام کې دجزایي قوانینو بنسټیز اصول دادي چې انسان ددولت قانوني منګولو ته تر هغې پورې ورکش نه کړل شي تر څو چې هغه دتمدن نظام دله منځه وړلو او خرابولو په خاطر کوم بالفعل حرکت نه وي کړی، خو کله چې هغه داسې کوم حرکت او یا عمل وکړي،نو بیا هغه ته دسپکې او خفیفه سزا په ورکولوسره دګناه کولو او سزا تېرولو عادتول نه دي په کار . دجرم دثبوت شرائط بایدډېر سخت وي.

ــ په اسلامي شرعي قانون کې دجرم دثبوت شرائط عموماً ډېر سخت دي خو دزنا دجرم دثبوت شرطونه له ټولو سخت دي، په عامه توګه په ټولو معاملاتو کې اسلامي قانون یوازې ددوو ګواهانو موجودیت کافي ګڼي خو دزنا لپاره لږ تر لږه څلورو ګواهانو ته اړتیا ده. خلك دقانون حدودو ته له راوستلو څخه تر هغې چې ممکن وي و ساتئ .

ـ دنبي کریم (ص) ارشاددی تر کومه چې ممکن وي مسلمانان له سزا څخه و ژغورئ که چېرې دمجرم لپاره دبرائت کومه لاره وي، نو هغه پرېږدئ«او سزا مه ورکوئ » ځکه چې دامام لپاره په بښنه کې غلطي کول له دې نه غوره دي چې هغه په سزا ورکولو کې غلطي وکړي،خو کله چې کوم وګړی دقانون تر حکم لاندې راغی، نو بیا هغه ته داسې سزا ورکړئ چې نه یوازې نوموړی په خپله ددا ډول جرم له بیا کولو څخه عاجز شي، بلکې نورو په زرګونو انسانانو چې ددې جرم په لور اقدام کوونکي وي ددغسې عبرتناکې سزا په لیدو سره و وېرېږي ، ځکه چې دقانون مقصدپاکوالی دی. نه دا چې خلك بیا بیا جرم وکړي او بیا بیا سزا وګالي . دټولنیز نظام دساتنې لپاره چې اسلامي تعزیراتو کومې کړنې او افعال جرم او دسزا وړ ګڼلي هغه دوه دي یو زنا او بل قذف یعنې پر یو چا دزنا کولو تهمت لګول.

۱-دزنا حد: دزنا په هکله موږ مخکې بیان کړل چې داخلاقو له اړخه دا فعل دانسان دانتهایي پستۍ زیبښه ده . هغه څوك چې ددې ډول کار مرتکب کېږي هغه په حقیقت کې ددې خبرې ثبوت وړاندې کوي چې دهغه انسانیت دحیوانیت تر اغېزې لاندې راغلی او هغه دانساني ټولنې یو صالح وګړی نه شي ګرځېدای.دټولنیز لیدله اړخه دا له هغو سترو جرایمو یو دی چې دانساني تمدن پر بنسټ حمله کوي، دهمدغو لاملونو پر اساس اسلام هغه په خپل ځای دتعزیر وړګناه بللی، که څه هم له هغې سره بل کوم جرم لکه زور او ځواك او یا دکوم بل وګړي حق تلفول شریك وي او که نه ، دقران مجیدحکم دی چې فرمایي : (( زنا کوونکی سړی او زنا کوونکې ښځه ، له دواړو څخه هر یو سل دُرّې ووهئ او دالهي قانون په عملي کولو کې تاسې هېڅکله هم پر هغوی ترحم ونه کړئ که چېرې تاسې پر الله تعالی او داخرت په ورځ ایمان لرونکی یاست اوکله چې هغوی ته سزا ورکړئ، نو له مسلمانانو دې یوه ډله دهغې دلیدلو لپاره موجوده وي . په دې هکله داسلامي قانون او غربي قانون تر منځ ډېر توپیر موجوددی غربي قوانین زنا کول پر خپل ځای کوم جرم نه ګڼي، دهغو له آنده دا فعل هغه وخت جرم دی چې دهغه ارتکاب په زور او زیاتي سره وشي. یا له کومې داسې ښځې سره دا عمل تر سره شي چې دبل چا په نکاح کې وي. یا په بل عبارت ددې قانون له مخې زنا جرم نه بلکې جرم په اصل کې زور او جبر او دنورو حق په لغته وهل دي. اما ددې پرخلاف داسلامي قانون له مخې دا فعل په خپله جرم دی او دجبر ،اکراه ،زور زیاتي او دنورو حق تلفول پر دې جرم اضافه یو بل جرم دی. دهمدغه بنسټیز اختلاف پر اساس دسزا په هکله هم ددواړو طریقې او لارې بېلا بېلې دي. غربي قوانین دجبري زنا لپاره په بندي کولو بسنه کوي او له نکاح شوې ښځې سره په زنا کولو سره دښځې مېړه ته دتاوان ورکول دهغې حق ګڼي. دا سزا دجرم دمخنیوي لپاره نه ده، بلکې خلکو ته نور هم جرئت ورکوونکې ده په دې خاطر په هغو هېوادونو کې چې دا قانون رائج دی ، دزنا ارتکاب ورځ په ورځ زیاتېدونکی دی. ددې په مقابل کې داسلام قانون په زنا دومره سخته سزا ورکوي چې ټولنه له دغه جرم او له دغه ډول مجرمینو تر یوه وخته پورې پاکه پاتې شي . په هغو هېوادونو کې چې په زنا سزا ورکول کېږي ، هلته ددې فعل ارتکاب هېڅکله عام شوی نه دی، یوځل چې شرعي حدودنافذ کړای شي نو بیا په ټول ولس کې داسې هیبت را پیدا کېږي چې په کلونو کلونو هم څوك ددغه بدکار دارتکاب جرئت نه شي کولی. همدا راز دمجرمانه میلان لرونکو وګړو په ذهن باندې یو رواني فشار دی چې له دې لارې دهغوی نفس په خپله اصلاح کېږي . غربي ضمیر دسلو درو پر وهلو باندې نیوکه کوي او علت یې دا نه دی چې هغوی نه غواړي انساني جسم ته تکلیف ورسول شي،ځکه اصلي علت یې دا دی چې دهغوی داخلاقي شعور وده او نشو نما تر اوسه پورې ناقصه ده . هغوی په لومړیو کې زنا یو عیبجن کار ګاڼه، خو اوس یې یوه لوبه او تفریح ګڼي ، له کومې څخه چې دوه انسانان دیو څو لحظو لپاره خپل زړونه خوشحالوي په دې خاطر دوی غواړي چې قانون له دې فعل سره له زغم نه کار واخلي او تر هغه وخته یې کومه پوښتنه ونه کړي تر څو چې زاني دبل چا زادي او یا دهغه په قانوني حقوقو کې خنډونه پیدا نه کړي ، بیا دخنډونو او مداخلې په صورت کې هم هغوی دا یو داسې جرم ګڼي چې یوازې دیوه وګړي حقوق ترې اغېزمنېږي. پر دې اساس یوه معمولي شان جزا یا تاوان ددې جرم دسزا لپاره کافي ګڼي . ښکاره ده چې څوك دزناکولو دغه تصور ولري،نو هغوی ددغه جرم په ارتکاب دسلو دُرّو سزا ته ظالمانه سزا ویلی شي، خوکله چې دهغوی اخلاقي او ټولنیز شعور وده و مومي او هغوی ته څرګنده شي چې زنا که په زور سره وي او که په خوښې او رضا سره ، که هغه له مېړوښې ښځې سره وي او که له پیغلې نجلۍ سره ، په هر صورت یو ټولنیز جرم دی او دهغې زیانونه ټولې ټولنې ته رسېږي ، نو بیا به دسزا په اړه هم دهغه ذهن په خپله بدلون و مومي . هغه به داخبره مني چې ددغسې زیانمنو افعالو ټولنه بایدخوندي پاتې شي او څرنګه چې دزنا په لور تحریك کوونکي وسایل دانسان په حیواني طبیعت کې ډېرې ژورې ریښې لري او دغه ریښې یوازې دقیدو بنداو یا مالي تاوان په زور نه شي را ویستل کېدای په دې خاطر دېې دمخنیوي لپاره دسختو تدبیرونو له خپلولو پرته بله لاره نه شته . یوه وګړي او یا دوو ته دسخت جسماني تکلیف په ورکولو سره په لکونو نور وګړي له اخلاقي او عمراني ضررونو خوندي کول ، له دې نه ډېر غوره دي چې مجرمان له تکلیف نه په ځنګ کړل شي او ټول ولس په داسې زیانونو کې ور وغورځول شي چې راتلونکو بې ګناه نسلونو ته یې زیبښې په پرله پسې توګه په میراث ورسېږي . دسلو دُرّو دوهلو سزا ته دظالمانه سزا دویلو یو علت دغربي تهذیب پر بنسټونو له لږ څه دقت کولو وروسته را څرګندېږي لکه چې پخوا مو وویل: دغه تهذیب دټولنې په مقابل کې دوګړي دملاتړ پر جذبه ولاړ دی او ددې ټول اساس دوګړیزو حقوقو پر داسې یو تصور ولاړ دی چې له مبالغې ډك دي. په دې اساس که وګړي پر ټولنې هر څومره ظلم وکړي، نو هغه دغرب خلکو ته دومره دروندنه تمامېږي بلکې ډېر وختونه یې پر خوشحالۍ سره زغمي،خو کله چې دټولنیزو حقوقو داعادې په خاطر وګړي را نیول کېږي نو دهغه لپاره چیغې او ناري سورې پیلېږي .له دې نه پورته دټولو جاهلیتونو دخاوندانو په څېر دغربي جاهلیت دپیروانو هم یو امتیازي خصوصیت دادی چې هغوی دمعقولاتو پر ځای...۷مخ

# آداب وضوء ، نماز و دعا

نویسنده :مولوی محمد نعیم عادل

ترجمه: وحید الله عمر المدنی

**آداب وضوء**

وضـو کفـاره گناهـان اسـت. بـا وضـو گرفـتن تمـام گناهـان بنـده مسلمان از بـدن خـارج مـی شـود، بنابرایــن وضــو بایــد بــا نظــم و ترتیب انجام شـود و همـه آداب آن رعایـت شـود.

بعضـی آداب وضـوء بـه نحـو ذیـل اسـت

۱. وضـو بایـد بـا «بسـم اللـه» شروع شـود.

۲. وضـو بایـد بـا اطمینـان و آرامـی انجـام شـود.

۳. در هـر بـار وضـوء گرفـتن بایـد از مسـواک اسـتفاده شـود; زیـرا مسـواک دهـان را پـاک میکنـد و سـبب رضامنـدی خداونـد ﷻ میشـود.

٤. در هنـگام وضـوء کـردن بایـد از خنـده ،صحبـت و دیگـر لهـو ولعـب پرهیـز شـود.

۵. در وضـوء نبایـد آب را بـه



صـورت یا سـایر قسـمت هـای بدن بـا ضربـه بزنـد.

٦. پـس از وضـوء، نبایـد دسـت را تـکان بدهـد و هـم چنـان آب را نپاشـد.

۷. در هنـگام انجـام دادن وضـوء بایـد بدانـد کـه آب بـه تمام اعضـا و جـوارح بـدن کامـلاً رسـیده باشـد.

۸. در هنـگام وضـوء کـردن دعاهای مسـنونی کـه از رسـول خـدا صلـی اللـه علیـه و آلـه و سـلم نقـل شـده اسـت، خوانـده شـود. همچنیـن هر دعایـی کـه از سـلف صالـح وارد شـده اسـت نیـز بایـد گفتـه شـود.

۹. بعـد از هـر وضـوء دو رکعـت نمـاز نفـل خوانـده شـود اگـر وقـت مکـروه نباشـد.

۱۰. در وضـوء بایـد در اسـتفاده از آب اعتـدال را رعایـت کـرد.

۱۱. در وضـوء کـردن، هـر عضـو نبایـد بیـش از سـه بار شسـته شـود. چـون اسراف اسـت.

۱۲. بعـد از بـی وضـو شـدن هـر چـه زودتـر وضـو بگیـرد تـا همیشـه بـا وضـو باشـد .

۱۳. وضـو در جـای بلنـدی باشـد تـا آب وضـو پاییـن بیایـد.

۱٤. هنـگام وضـو بایـد رو بـه قبلـه بنشیند .

۱۵. در هنـگام وضـوء کـردن نبایـد از دیگـری کمـک بخواهیـد.

۱٦. در هنـگام وضـوء کـردن، دهان بایـد بـا دسـت راسـت شسـته شـود و بینـی بـا دسـت چـپ پـاک شـود.

۱۷. بعـد از وضـوء کمـی آب بایـد نوشـیده شـود.

۱۸. دهـان و بینـی بایـد بـا یـک دسـت شسـته شـود.

۱۹. در وضـوء باید انگشـتان دسـت و پـا خـلال شـود و اگـر ریـش انبـوه داشـته باشـد او را نیـز بایـد خـلال کنـد.

آداب نماز

چـون نمـاز را خداونـد بـر همـه مؤمنـان در وقـت معینـی فـرض کـرده اسـت، پـس بایـد نمـاز را بـا تمـام آدابـش خوانـد.

آداب نماز به شرح زیر است:

۱. اخـلاص در نمـاز، ایـن کـه ایـن نمـاز را فقـط و فقـط بـرای خـدا بخوانـم و اعمالـی کـه خـاص بـرای خـدا نباشـد، پذیرفتـه نمـی شـود.

۲. وضـو گرفـتن صحیـح بـرای نماز; زیـرا بـا وضـوء صحیـح ، گناهـان بخشـیده مـی شـود و درجـه هـا بالا میشو د

۳. زود رفـتن بـه مسـجد بـرای نمـاز: مسـلمان بایـد بـرای نمـاز زود بـه مسـجد بـرود.

٤. بایـد بـا اطمینـان و وقـار و منظـم بـه نمـاز رفـت.

۵. تواضـع در نماز.بایـد نمـاز را بـا تواضـع و عاجـزی خوانـد.

٦. رعایـت سـنت هـای پیامـبر اکرم - صلـی اللـه علیـه و آلـه وسـلم - در نماز .

۷. نماز خواندن با علاقه و عشق.

۸. قبـل از خوانـدن نمـاز شـکل و ترتیـب خـود را آمـاده کـردن.

۹. بـرآورده کـردن حاجـات و تکالیـف قبـل از نمـاز تـا افـکار در نمـاز منحـرف نشـود.

۱۰. در نمـاز دل خـود را بـه سـوی خـدا معطـوف کنیـد.

۱۱. در حـال ایسـتادن بـه نمـاز، بـه محـل سـجده نـگاه کنیـم و فکـر کنیـم کـه ایـن جـا محـل رفـتن مـا هسـت.

۱۲. تفکـر در معانـی آیـات و اذکار در نمـاز.

۱۳. پرهیز از غفلت در نماز.

۱٤. خـودداری از حـرکات سریع در نمـاز، یعنـی عجلـه کـردن در وقـت اداء کـردن ارکان نمـاز.

۱۵. خـودداری از لبخنـد زدن، نـگاه کـردن بـه اطـراف، دسـت زدن بـه مـصروف شـدن بـه لبـاس در هنـگام نمـاز.

۱٦. در نمـاز از عطسـه و سرفـه کـردن خـودداری کنیـد.

۱۷. در اولِ وقـت عجلـه کـردن بـرای خوانـدن نمـاز.

۱۸. بعـد از ختـم نمـاز بعـد از هـر نمـاز بـرای اسـتغفار و ذکـر و دعـا در جایـگاه نمـاز نشسـتن.

۱۹. نمـاز را همیشـه بـه جماعـت انجـام دادن.

۲۰. وقتـی نمازگـزار در جایـی کـه مـردم در حـال عبـور هسـتند نمـاز مـی خوانـد، بایـد یـک مانـع را اسـتاد کـردن تـا مـردم بـه تکلیـف نشـود

آداب دعا

همانطـور کـه همـه مـا مـی دانیـم کـه دعـا مغـز اصلـی عبادت اسـت، بنابرایـن لازم اسـت کـه دعا بـا آداب شایسـته همـراه باشـد تـا در بـارگاه خداونـد افتخـار قبولـی را حاصـل کند .

برخی از آداب دعا عبارتند از:

۱. در دعا اخلاص داشته باشید.

۲. قبل از دعا...٦مخ

# پر چا باندې قرباني کېږي

استاد حبیب الرحمن «صالحي»

څنګه چې رب العزت فرمایلي دي: ژباړه: ((یقینا دا قرآن هغې لارې ته ښوونه کوي، چې هغه سمه او سیده لاره ده او هغو مؤمنانو ته چې سم کارونه کوي دا زیرې ورکوي، چې بیشکه د دوي لپاره لویه بدله ده.)) (الإسراء/۹)

الله تعالی د قرباني او هدي په هکله فرمایي: ژباړه: ﴿الحج: ۳۷﴾ ((خو په یاد ولرئ چې) هېڅکله به الله تعالی ته (د ثواب له حیثه) نه د قربانیو غوښې ورسیږي او نه به ورته د هغو وینې ورسیږي؛ مګر الله تعالی ته ستاسو له پلوه پرهېزګاري (په همدې حیث) رسېږي.)) عزیزالتفاسیر- ۸ج - ص۲۶۸.

خو رسېږي الله تعالی ته له تاسي (د بنده ګانو له خوا) څخه پرهېزګاري (او خالص نیت) یعنې حقیقي او واقعي اخلاص د الله تعالی لپاره د انسانانو له خوا د ټولو اعمالو او أفعالو (عباداتو، معاملاتو او داسي نورو کړنو) د قبلولو لمړنی شرط ګڼل کېږي. ډېر درسونه شته، چې د مسلمانانو پخپلو منځونو کې د همدردۍ او خواخوږۍ احساس لاپسې زیات پیاوړی کیږي. داسې به ولې نه وي؛ ځکه چې پدې مهال د نړۍ له لر او بر سر څخه مسلمانان یو د بل له حال څخه ځانونه خبروي، خپل مشکلات او ستونزې سره شریکوي او د هغو په له منځه وړلو کې یو بل ته د تعاون او مرستې لاسونه وراوږدوي.

پدې هکله زه غواړم هغه څه بیان کړم، چې کم ترکمه د یو مسلمان لپاره لازم او ضروري دي، چې پوه شي، د قربانۍ احکام په اسلام کې ډېرزیات دي او د فتواوو او فقهاوو کتابونه ترې ډک دي، څرنګه چې په نورو برخوکې یې اجتهادونه کړي دي. په یو کورکې اضحیه د چا په غاړه ده؟ هغه حیوانات چې صرف مرداري وخوري؟ قرباني پر ټولو مسلمانانو واجبه ده؟ پر سړي او ښځې؟ صاحب د قرباني (هغه څوک چې قرباني کوي) غوښه وخوري او که یې ونه خوري؟ کومه غوښه (قرباني) کولای شي چې ذخیره یې کړي؟ کومه غوښه (قرباني) کولای شي، چې صدقه یې کړي؟ هغه حیوانات، چې اضحیه اوهدي پرې جائزه ده کوم دي؟ او داسې نور.

**نصاب د قرباني:** په فتاواي د (هندیه - ج۵ - ص۲۹۲) او په (الفقه الاسلامي وادلته - ج۳ - ص۱۸۳٤) کې راغلي دي چې ما خلص کړې ده: د قرباني نصاب هغه نصاب دی، کوم چې د صدقه فطر نصاب دی، دصدقه فطرنصاب په موجود مروجه وزن باندې (۸۵) ګرامه سره زر یعنې طلا او (۵۹۵) ګرامه سپین زر یعنې نقره یا د یو له دغو دواړو قیمت برابر نقدي روپي وي لکه: افغانۍ، ډالر او داسې مروجه روپۍ یا د تجارت سامان وي یا نور سامانونه چې له حاجت اصلي څخه زائده وي. په نصاب دصدقه فطر او نصاب د قرباني کې نه نماء شرط دی اونه حولان حول.

**پر چا باندې قرباني کېږي:** (قال العلامة التمرتاشي (رح) فتجب التضحیة علي حر، مسلم، مقیم، مؤسر) (درالمختار- ج۵- ص۲۲۰) والله سبحانه وتعالی اعلم (احسن الفتاوي - ج۷ - ص ٤۸٦). ژباړه: آضحیه پر آزاد، مسلمان، مقیم، غني باندې واجب ده.

که چیرې پلار او زامن سره په شریکه په یو کورکې اوسیږي او زامن یې مستقل کسب او ګټې ونه لري، بلکې پلارسره د پلار په ځمکه یا شرکت یا دکان یا په بل کوم صنعت کې په صفت د معینانو د پلارکارکوي، په دې صورت کې، ټوله دارائي د پلار ګڼل کېږي او زامن د دغې دارائي مالکان نشي بلل کیدای. فلهذا زکات، اضحیه، حج، صدقه د فطر او نور مالي واجبات صرف پر پلارباندې واجب ګرځي، نه پر زامنو باندې، که زامن یې نورڅه مال چې نصاب ته رسیږي، ونلري. المثقف من الفتاوي ـ آبوعبیدالله میرغلام جیلاني ـ دریم جلد ـ ص ٤۷۸.

هغه حیوانات چې صرف مرداري وخوري: (قوله ولا الجلالة) اي قبل الحبس قال في الخانیة فإن کان ابلاً تمسک اربعین یوماً حتي یطیب لحمها والبقرعشرین، والغنم عشرة (قوله ولاتأکل غیرها) أفاد أنها اذا کانت تخلط تجزي (شامي - ج ۵ - ص ۲۲۹).

ژباړه: هغه حیوانات د اضحیه یاهدي چې خوراک یې صرف مرداري وي، پر هغو اضحیه اوهدي نه کېږي، چې ترڅو د مرداري له خوړلو څخه منع شوي نه وي، مدت د منعې د اوښ څلویښت ورځې دی او دغویي شل ورځې او د پسه لس ورځې دی، کله چې د دغو ټاکلو ورځو د مردارۍ له خوړلو څخه منع شي بیا اضحیه اوهدي پرې جائزې دي او که مختلط یې وخوري جواز لري.

یادونه: چرګه چې مرداري وخوري درې ورځې باید بنده شي او مرغۍ چې مرداري وخوري یوه ورځ باید بنده شي. د قاضیخان (هندیه) په فتوا سره.

**هغه حیوانات چې اضحیه اوهدي پرې جائزه ده:**

(وتجزي الشرقاء مشقوقة الأذن طولاً والحرقاء مثقوبة الأذن والمقابلة ما قطع من مقدم أذنها شئ و ترک معلقا والمدابرة ما فعل ذلک بمؤخرالأذن من الشاة والنهي الوارد محمول علي الندب وفي الخرقاء علي الکثیرعلي الاختلاف في حد الکثیرعلي مابینا) اه (شامي -ج۵- ص ۲۲۹).

ژباړه: په شرقاء یعنې چې غوږونه یې په اوږدوالي شق شوي وي، له منځه تر آخره پورې او خرفاء یعنې چې غوږونه یې سوري کړې شوي وي او حد اکثر یعنې له ثلث څخه زیات نه وي او په مقابله یعنې چې دمخ له طرفه له غوږ څخه پرې شوي او ځوړند وي او په مدابرة یعنې د پسه آخر طرف د غوږ یې پرې شوی وي او ځوړند وي، اضحیه اوهدي پرې جائز دي بدون له کراهته.

(في الظهریة ولابأس بالجدباء وهي الصغیرة الأطباء جمع طبي وهو الضرع) (شامي -ج ۵- ص ۲۲۹).

ژباړه: پر هغه حیوان د اضحیه، چې تې (ضرع وپستان) یې پیدائشي (خلقة) وړکی وي، اضحیه او هدي پرې جائزه ده سره له کراهته.

(تناثرشعرالاضحیة في غیر وقته یجوز اذا کان لها نقي أي مخ کذا في القنیة) (هندیه- ج۵ -ص۲۲۹).

ژباړه: پر هغه حیوان د اضحیه اوهدي، چې ویښتان یې مخکې له وخته له اضحیه څخه تویې شوي وي مګرچاغ وي، اضحیه اوهدي پرې جائزه ده سره له کراهته.

(وتجوز الحولاء ما في عینها حول والمجرورة التي جز صوفها خانیة وقدمنا أن ما جوزهنا جوز مع الکراهیة لانه خلاف المستحب) (شامي -ج ۵- ص ۲۲۹).

ژباړه: او په حولاء یعنې چې سترګې یې کږې وي او په مجرورة یعنې چې وړۍ یې قیچي شوي وي، اضحیه او هدي پرې صحیحه ده سره له کراهیته پدې سبب چې خلاف د مستحب ده.

(فیجوز فیها الثني من الابل والبقر والغنم والثني من الابل ما تم له خمس سنین وطعن في السادسة ومن البقر ومنه الجاموس ما طعن في الثالثة ومن الغنم ومنه المعز ما طعن في الثانیه ولایجوز فیها سوي الانواع الثلاثة....) (عنیة الناسک - ص۳٦۷).

ژباړه: په اضحیه اوهدي کې ثني د ابل (اوښ) بقر(غویي) غنم (پسه) جواز لري اوبس، ثني په اوښ کې هغه ته وایي چې پنځه کاله دعمریې پوره شوي اوپه شپږم کال یې قدم ایښې وي اوثني په غویي کې یعنې دغویي په جنس کې هغه ته وایي چې دوه کاله دعمریې پوره کړي وي او په دریم کال دعمرکې یې شروع کړي وي او ثني دجنس دپسه څخه هغه دي چې یو کلن شوي وي او په دوهم کال دعمرکې یې قدم ایښې وي او په ذکرشوي ۳



انواعو کې جواز لري او په نورو انواعو کې جواز نه لري.

**هغه حیوانات چې اضحیه اوهدي پرې جائز نه دي:**

(ولاتجوز الحذاء وهي المقطوعة ضرعها ولا المصرمة وهي التي لا تستطیع أن ترضع فصیلها ولاالجداء وهي التي ییبس ضرعها کذا في محیط السرخسي) (هندیه - ج۵ - ص ۲۹۸).

ژباړه: په حذاء یعنې چې تې (ضرع، پستان) یې پرې کړی شوي وي او په مصرمة چې خپل بچي ته شودې نه شي ورکولای او په جداء چې تې یې وچ شوي وي یعنې شودې نه ورکوي او پر هغه باندې چې تې ته یې کوم مرض رسېدلی وي او بیا دې لري کېدو د مرض داغ شوي وي او د داغ په سبب سره یې شودې بندې شوي وي، اضحیه او هدي پرې جائز نه دي او یا یې د څه علاج کولو په سبب شودې بندې کړي شوي، پرې جائز نه دي.

(وفي الشاة والمعزاذا لم تکن لهما احداي حلمتیها خلقةً او ذهبت بآفة وبقیت واحدة لم تجزوفي الابلَ والبقرإن ذهبت واحدة تجوز وإن ذهبت اثنتان لاتجوز کذا في الخلاصة) (هندیه -ج۵- ص ۲۹۸).

ژباړه: او که چېرې د پسه او وزې د یوتۍ سر (حلمة) پیدائشي نه وي یا قطع شوي وي او د اوښ یا غویي د دوو تیو سرونه پیدائشي نه وي یا قطع شوي وي، اضحیه او هدي پرې جائز نه دي. او په اوښ یا غویي کې د یوتۍ سرپیدائشي نه وي یا قطع شوي وي، اضحیه اوهدي پرې جائزه دي.

(ولاتجزي العجفاء التي لاتنقي) (هندیه -ج۵ - ص ۲۹۸).

ژباړه: پر داسې ډنګرباندې اضحیه اوهدي نه کېږي، چې دهډوکي مغز یې ختم شوي وي.

(ولاتجوز الحمیاء والحوراء البین عورها والعرجاء البین عرجها وهي التي لاتقدر ان تمشي برجلها الي المنسک والمریضة البین مرضها و مقصوعة الاذنین والالیه والذنب والتي لا اذن لها في الخلقه) (هندیه - ج ۵ - ص ۲۹۷).

ژباړه: په عمیاء یعنې چې په دواړو سترګو ړوند وي او په عوراء یعنې چې یوه سترګه یې بالکل نه وي او په عرجاء یعنې چې په دریو پښو باندې ځي او څلورمه پښه بالکل پر ځمکه باندې نشي لګولی او نه په تللو کې کوم کمک ترلاسه کولی شي او په مریض باندې چې مرض یې ښکاره وي او پر هغه باندې چې غوږونه یا لم یا لکۍ یې بالکل یعنې بیخي نه وي یا له بیخ څخه پرې شوي وي او یا پیدائشي بالکل نه وي، اضحیه اوهدي پرې جائز نه دي.

**فرق په ما بین د ژبې د پسه او غوا کې:**

وسئل عمرو بن الحافط ایضآ عمن قطع بعض لسان الاضحیته وهو الکثیرمن الثلث هل تجور الآضحیة علي قول ابي حنیفة (رح) قال لا کذا في التتاخانیة (هندیه -ج۵- ص ۲۹۸). ژباړه: اود عمرو بن حافظ څخه سوال شوی دی. همد چې بعضې ژبه د اضحې قطع اوهغه د ثلث څخه زیاته وي آیا أضحیه پرې جواز لري په قول د امام صاحب (رح) چې ویلي یې دي، نه.

ما چې فتوا ګانې په دقیقه توګه مطالعه کړې په عباراتو د فقهاء کرامو (رض) کې فرق په ما بین د ژبې د پسه او غوا کې شته:

۱- پسه په ژبه واښه نه خوري، بلکې په غاښو یې خوري لیکن غوا پر ژبه واښه خوري له همدې کبله اضحیه او هدي پرې جائزه نه ده.

۲- قیاس په غوږ، لکۍ، سترګې د پسه باندې شوی دی.

تجوزالتضحیة ... التي لا لسان لها في الغنم خلاصة اى لا البقرة لانه یاخذ العلف بالسان والشاة بالسن کما فى القهستانى (شامی- ج۵- ص۲۲۹).

ژباړه: په لنډه توګه دا چې پسه په ژبه واښه نه خوري بلکې په غاښونو یې خوري، نوځکه اضحیه پرې جائزه ده اوغوا چې ده واښه پر ژبه باندې خوري، نوله دې کبله اضحیه پرې جائزه نه ده. والله تعالی اعلم بمراده.

هدي او اضحیه څه فرق لري؟

(ولایجوزفي الهدایا إلا ما جاز في الضحایا الا أن القیمة قد تجزئ في الأضحیة کما مضت آیامها ولم یضح الغني بخلاف الهدي) (عینة الناسک - ص۳٦٦).

ژباړه: په هدي کې هغه شي جواز لري کوم چې په اضحیه کې جواز لري، هو یو فرق په ما بین دهدي او اضحیه دغني کې شته، هغه دا چې ایام (ورځې) د اضحیه تېرې شو او غني اضحیه ونه کړله، پرې واجب ده چې قیمت د اضحیه به صدقه کوي، اما په هدي کې قیمت په هېڅ ډول کې جواز نه لري.

**خوړل، اطعام (مېلمستیا) او ذخیره کول:**

(...فصارت الجهات ثلاثا الأکل والإطعام والادخار فإن تصدق بجمیعها فهو افضل وإن لم یتصدق بشئ منها أجزاه لأن المراد منها اراقة) (جوهرة النیرة -ج۲ - ص۲٤۵).

ژباړه: په هدي د شکر او تطوع کې مستحب داده چې ثلث به یې صدقه کوي او ثلث به یې په اقاربو اوغنیانو باندې هم خوړلې شي استحباباً او ثلث به یې د خپل ځان د پاره ذخیره کولاي هم شي داهم مستحب ده چې صدقه به له ثلث څخه نه کموي که چیرې ښتن د هدي عیال داره و داسې کومه فراخي د رزق له مخې څخه ده ته حاصله نه وه چې پر خپل عیال باندې فراخي وکړي بیا مندوبه داده چې ټوله غوښه د اضحیه خپل عیال ته پرېږدي صدقه او اطعام به ترې نه کوي پدې صورت کې بیا پرېښودل دغوښې د اضحیه بل چاته (غیردخپل عیال څخه)مکروه ده. المثقف من الفتاوي ـ ابوعبیدالله میرغلام جیلاني ـ دریم جلد ـ ص ۳۸۰. که ژوندۍ یې صدقه کړي وجوب دهدي یا آضحیه ترې نه ساقطېږي:

(ولایسقط وجوبه بالتصدق به حیا ولا بأداء قیمته) (عینة الناسک - ص۳۵۸). ژباړه: که څوک هدي یااُضحیه ذبح نه کړي په خپل معینه وخت کې، بلکی تصدق یې کړي ژوندۍ په ایام (ورځو) د نحرکې یا یې قیمت صدقه کړي، وجوب دهدي یا اضحیه ترې نه ساقطېږي.

د کوموغوښو خوراک صاحب ته یې جواز لري: (قال الامام کاساني (رح) المتوفي ۵۸۷ هـ: إن الدماء انواع ثلاثة: نوع یجوز لصاحبه أن یأکل منه بالاجماع، نوع لایجوز له آن یأکل منه بالاجماع، ونوع اختلف فیه، فالاول دم الأضحیه نفلا کان او واجباً منذورا کان او واجباً مبتدأً ، والثاني دم الاحصار وجزاءالصید ودم الکفارة الواجبة بسبب الجنایة علي الإحرام کحلق الرأس ولبس المخیط والجماع بعدالوقوف بعرفه وغیر ذالک من الجنایات ودم النذر بالذبح، الثالث: دم المتعة والقران فعندنا یؤکل وعندالشافعي (رح) لایؤکل) (بدائع الصنائع -ج۵- ص ۸۰).

ژباړه: امام کاساني (رح) ویلي دي: په تآکید سره دماء (وینې) په درې ډوله دي: یو قسم دي، چې جوازلري چې ویې خوري صاحب دهغې په اجماع سره، بل قسم هغه دي چې جواز نه لري، چې ویې خوري صاحب دهغې په أجماع سره او بل قسم هغه دي چې اختلاف د علماوو پکې شتون لري، بیا لومړي: د اضحیه دم دي که نفل وي او که منذوره واجب وي او که مبتدا واجب او دوهم: دم احصار او جزاء د ښکار او د واجبې کفارې دم دی چې په سبب د جنایت په احرام وشي لکه: سر خریل او ګنډلې شوي کالي اغوستل او جماع کول وروسته له وقوفه د عرفې او داسې نورجنایات او په ذبح باندې دم د نذر، دریم: د متعې او قران دمونه (وینې) چې زموږ په نزد خوړل کېږي او د امام شافعي په نزد نه خوړل کیږي.

(ویجوزالاکل من هدي التطوع والمتعة والقران لانه دم نسک فجوز الاکل منها) (الهدایة في شرح البدایة ـ باب الهدي ـ جلد اول ـ ص ۲۸۰).

ژباړه: د تطوع له هدي اومتعې او قران څخه خوړل جوازلري، ځکه چې د نسک (عبادت) دم ده، پس له هغې څخه خوړل جواز لري.

**له أجزاء دهدي یا اضحیه څخه استفاده کول:**

(د کومې هدي یا اضحې چې خوړل د غوښې یې صاحب ته جائزنه وي، له هغه څخه هیڅ ګټه نه شي اخیستلي، بلکې صدقه به یې کوي لکه: پوستکی، وړۍ، شیدې او نور او که چیرې یې خوړل دغوښې صاحب ته جائزه و، بیا وروسته له ذبحې څخه ګټه اخیستلي شي...) المثقف من الفتاوي ـ ابوعبیدالله میرغلام جیلاني ـ دریم جلد ـ ص ٤۲۰.

مړي ته قرباني کول:

(لو ضحي عن میت وارثه بأمره، ألزمه بالتصدق بها وعدم الا کل منها و إن تبرع بها عنه، له الاکل، لأنه یقع علي ملک الذابح والثواب للمیت) (شامي -ج۵- ص ۲۳٦).

ژباړه: که چیرې څوک د مړي له پاره قرباني وکړي او مړي وصیت او امر په قربانۍ سره کړي وي، بیا ورته قرباني وکړي، ددې قربانۍ غوښه به ټوله صدقه کوي اودوي به یې به خپله نه خوري.

اوکه چیرې مړي وصیت او امر په قرباني نه وي کړي، ددې قربانۍ مالک په خپله ذابح دي یعنې په خپله یې هم خوړلې شي او بل ته یې هم ورکولی شي لکه هغه قربانۍ چې د خپل ځان لپاره یې کړي وي او ثواب د مړي لپاره دی.

**په حرام مال باندې قرباني نه کېږي:**

که چیرې د یو شخص ټول مال حرام وي لکه: ربا (سود) یا رشوت یا غصب یا غیره او مال یې هم نصاب ته رسیږي او فاضل له حاجته د اصلي هم وي، په ده باندې قربانۍ نده واجب او نه زکات پرې واجب دي او نه صدقه د فطر او نه د بیت الله شریف دحج کوم فرضیت ورته متوجه دی بلکې پرده باندې لازم او واجب دي چې له ده سره کوم مال حرام دي او اصلي څښتنان یې ورته معلوم وي هغوي ته دې خپل مالونه تسلیم کړي اوکه چیرې اصلي څښتنان دمال مذکور اویا ورثه د دوي ورته معلومه نه وي، هغه دې په نیت دفراغت د ذمه څخه په نیت دثواب د اصلي مالکینو په ارواح، صدقه کړي اوبس. ابوعبیدالله میرغلام جیلاني - جلد ۳-ص ٤۵۳- المثقف من الفتاوي.

**پر فقیرانو د صدقې ویش:**

(...زکات او صدقه د فطر کې تفریق بین فقراء جائز ده، یعنې چې د یو نصاب زکات یا د یو شخص په ډېرو فقیرانو او مستحقانو باندې تقسیم کړي، اما په کفاراتو کې تفریق جائز نه ده، یعنې کفاره دیوې ورځې صوم مثلاً په ډېرو مسکینانو باندې نه شي تقسیمولی، بلکې یو مسکین ته به یې ورکوي). المثقف من الفتاوي ـ ابوعبیدالله میرغلام جیلاني ـ دریم جلد ـ ص۳۸۲.

اهل د صدقې کوم خلک دي؟

الله تعالی فرمایي: (...فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ...) ﴿الحج: ۳٦﴾

ژباړه: نو پخپله باندې یې ترې وخورئ او (هم یې) په سوال کوونکي او تمه کوونکي باندې وخورئ (تا سو ته اجازه ده). په بل مقام کې الله تعالی فرمایي: (إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ) ﴿التوبة: ٦۰﴾

ژباړه: بې شکه زکاتونه د فقیرانو د پاره خاص کړي شوي دي او د مسکینانو د پاره هم، او په زکاتونو باندې د عمل کوونکو دپاره هم، او د مؤلفه القلوب د پاره هم (چې زکات سره د دوي په زړونو کې الفت او اچول مطلب وي). او هم (د دې د پاره خاص کړي شوي دي چې) په غلامانو (ازادولو) کې (مصرف شي) هم په قرضدارانو کې (مصرف شي) او هم د الله تعالی په لاره کې (مصرف شي) او (بالآخره) د لارې په بچي (مسافر) کې (مصرف شي). (زکات فرض کړي شوي دي) دالله تعالی له جانبه. او الله تعالی پوه (اوهم) د حکمت څښتن دی.

**پایلې:**

خپل عبادت او قرباني، څنګه چې لازمه را ته بریښي په هماغه ډول یې باید پرځای کړو، باید چې د دنیا ژوند د آخرت لپاره توښه وګرځوو، یواځې آخرت مو مقصد او هدف وي، دنیا یو ضرورت او په لاره د تیریدلو د ځای په څېر یې وګڼو لکه: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (مالي وللدنیا، ما أنا في الدنیا إلا کراکب استظل تحت شجرة ثم راح وترکها). (سنن الترمذي - ج ٤ – ص ۵۸۸). ژباړه: زما له دنیا سره څه دي، زه خو په دنیا کې نه یم، مګر په لاره باندې تیریدونکی سپور چې د ونې سیوري ته راشي (لږ شیبه ورلاندې کښیني) بیا ورڅخه ولاړ شي او هغه پریږدي. په پای کې له الله تعالی چې قادر او توانا ذات دي، په عاجزي غواړو، چې له منهیاتو څخه یې پرهیز وکړو او له نفاق او کفر څخه په شدت نفرت وکړو او مستقیمه لاره تعقیب کړو، له الله تعالی څخه توفیق غواړو، چې د فحش، بهتان او فساد، څخه خپل ځانونه وژغورو.

والعلم عند الله تعالی، و آخر دعوانا أن الحمد لله ربِّ العالمین وصلَّی الله علی محمَّدٍ وعلی آله وصحبه وإخوانه إلی یوم الدین وسلَّم تسلیمًا. والله تعالی أعلم بمراده.

# افغـــان اعــلانات

**"اعلان دعوت به داوطلبی**

**وزارت امورخارجه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه های ذیل اشتراک نمایند**

| اسم پروژه | شماره داوطلبی | تاریخ و زمان جلسه قبل از داوطلبی | تاریخ آفر گشائی | زمان آفر گشائی | تضمین آفر داوطلبی |
|---|---|---|---|---|---|
| تهیه و تدارک چهار قلم خوراکه باب | MOFA/NCB/1402/G-006 | 1402/4/20 ساعت: 10:00 | /4/27 1402 | 10:00 قبل از ظهر | (25175) افغانی |
| تهیه و تدارک هلو گرام سیکیورتی برای ریاست امور قونسلی | MOFA/NCB/1402/G-012 | 1402/4/20 ساعت: 10:00 | /4/28 1402 | 10:00 قبل از ظهر | (90000)افغانی |
| تهیه، نصب و مونتاژ یک پایه ترانسفارمر به ظرفیت ۱00 کیلو ولت امپیر برای تعمیر جدید ریاست نمایندگی وزارت امور خارجه در ولایت هرات | REBID-MOFA/NCB/1402/W-001 | ندارد | /4/31 1402 | 10:00 قبل از ظهر | (51000) افغانی |

**نقل شرطنامه را از ویب سایت وزارت امور خارجه و یا از مدیریت عمومی تدارکات وزارت امور خارجه در اوقات رسمی بدست آورده و آفر های خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشـر اعـلان الـی تاریخ های فوق الذکر و وقت معینه که آخرین میعاد ضرب الاجل تسلیمی آفر ها درج شرطنامه معیاری می باشد، به مـدیریت عمومی تدارکات وزارت امورخارجه واقع چهار راهی ملک اصغر جاده غازیان ناحیه دوم شهر کابل، افغانستان ارائه نمایند، آفـر های ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد. جلسه آفر گشائی در دفتر جلسات مدیریت عمومی تدارکات وزارت امـور خارجه تدویر می گردد. شماره تماس دفتر تدارکات: 0202103666**

**نوت: پول نقد به عنوان تضمین آفر پذیرفته نمی شود.۱۴۰۱**

## اعلان تصمیم اعطای قرارداد؛

شماره دعوت به داوطلبی: **(MOBTA/۱۴۰۲/NCB/OPT/W.۰۰۷).**

بدین وسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات، به اطلاع عموم رسانیده میشود؛ وزارت امور سرحدات، اقوام و قبائیل در نظر دارد پروژه؛ ترمیم لیسه عالی رحمان بابا را به شرکت محترم؛ ساختمانی سرکسازی تولید مواد ساختمانی و کانکس سازی ممتاز شرق دارنده جواز نمبر (D-۲۹۹۵۷) و نمبر تشخصیه (۷۰۰۱۴۵۶۰۱۶) به قیمت مجموعی (۴،۳۹۷،۱۱۹) چهارمیلیون و سه صدو نود وهفت هزارو یک صدو نزده افغانی اعطا نماید.اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات-وزارت امور سرحدات، اقوام و قبائیل، واقع ناحیه نهم-جوار ستره محکمه وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

## اعلان تصمیم اعطای قرارداد؛

شماره دعوت به داوطلبی: **(MOBTA/۱۴۰۲/NCB/OPT/W.۰۰۸).**

بدین وسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات، به اطلاع عموم رسانیده میشود؛ وزارت امور سرحدات، اقوام و قبائیل در نظر دارد پروژه؛ ترمیم تعمیراداری وزارت، مهمان خانه تایمنی و شهرنو را به شرکت محترم؛ ساختمانی عمری دارنده جواز نمبر (D-۶۲۷) و نمبر تشخصیه (۱۰۰۳۵۳۳۰۱۳) به قیمت مجموعی (۱،۷۴۹،۰۳۶) یک میلیون و هفت صدو چهل و نه هزارو سی وشش افغانی اعطا نماید.اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات-وزارت امور سرحدات، اقوام و قبائیل، واقع ناحیه نهم-جوار ستره محکمه وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

## اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم محمد نبی فرزند محمد نسیم ولدیت فتح محمد دارنده تذکره نمبر ( ۱۲۹۱۷۸) مسکونه اصلی ولایت میدان وردک مالک امتیاز دواخانه حسین محسن واقع ناحیه سیزدهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم عبدالرشید فرزند عبدالله ولدیت محمد ابراهیم دارنده تذکره شماره ( ۱۳۹۹-۱۲۰۱-۸۵۶۸۴ ) مسکونه اصلی ولایت میدان وردک گردیده است . اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۱۳۷۹

## اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ۱۸۱۰/۵۲۷۹ به اسم احمد بلال قیوم فرزند محمد سلیم و محترمه بینظیر وزیری قیوم بنت محمد زمان مفقود گردیده اعتبار ندارد.۱۳۸۵

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم عبدالعزیز نیکزاد فرزند امیر جان مفقود گردیده اعتبار ندارد.۱۳۸۰

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم حمید حسنی فرزند محمد مفقود گردیده اعتبار ندارد.۱۳۷۸

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد جواز سیر موتر مربوط لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام مفقود گردیده اعتبار ندارد.۱۳۸۱

## اطلاعیه به اجاره گیری

اجاره میدان ورزشی فوتسال شاروالی ولسوالی قره باغ را در سال ۱۴۰۲ از اول سرطان الی اخیر حوت به مدت ۹ ماه در بدل مبلغ ۶۰۲۰۰۰ افغانی محترم عبدالمبین فرزند شیرین مسکونه ولسوالی قره باغ برنده گردیده اشخاصیکه خواهش مزایده آنرا داشته باشند میتوانند درخواست های خویش را به شاروالی ولسوالی قره باغ بسپارند و خود شان از نشر اعلان الی ۷ یوم کاری جهت مزایده حاضر شوند شرطنامه را میتوانند ملاحظه نمایند تضمین طور پیشکی تحویل بانک میگردد.۱۳۸۶

## اطلاعیه عام تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود که، وزارت امور خارجه ۱.۱.۱ در نظر دارد، تا قرارداد تهیه وتدارک (۳۱) قلم لوازم تنظیفاتی تحت شماره ارتباطی **(MOFA/NCB/۱۴۰۲/G-۰۰۲)** را با شرکت محمد مسعود عزیزی لمیتد دارنده جواز شماره (۳۸۹۹-۰۱۰۱) آدرس سرای احمد شاهی منزل دوم مندوی کابل افغانستان را به ارزش مجموعی مبلغ (۲۰۹۲۶۲۵) دو میلیون نود و دو هزار و ششصدو بیست وپنج افغانی اعطاء نماید.اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به مدیریت عمومی تدارکات وزارت امور خارجه ۱.۱.۱، واقع چهار راهی ملک اصغر جاده غازیان، ناحیه دوم کابل افغانستان ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

## اطلاعیه به اجاره گیری

شاروالی ولسوالی قره باغ تهجائی توقفگاه هده های ترانسپورتی را در سال ۱۴۰۲ از اول سرطان الی اخیر حوت به مدت ۹ ماه در بدل مبلغ ۵۹۱۰۰۰ افغانی محترم محمد شاکر فرزند مفاد خان مسکونه ولسوالی قره باغ برنده گردیده اشخاصیکه خواهش مزایده آنرا داشته باشند میتوانند درخواست های خویش را به شاروالی بسپارند و خود شان از نشر اعلان الی ۷ یوم کاری جهت مزایده حاضر شوند شرطنامه را میتوانند ملاحظه نمایند تضمین طور پیشکی تحویل بانک میگردد.۱۳۸۷

## اطلاعیه دعوت به داوطلبی

پروژه تدارک اجناس برق دیتاسنتر و پاور روم ضرورت ریاست محترم تعمیرات ، حفظ و مراقبت برای ریاست عمومی اداره امور ۱.۱.۱ دارای تشخیصیه نمبر ۱۴۰۲/۰۲۹/AOP/G/ NCB

ریاست عمومی اداره امور ۱.۱.۱ از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه فوق الذکر اشتراک نموده و نقل سافت شرطنامه مربوط را در فلش دست از تدارکات و یا از ویبسایت :

**https://aop.gov.af/dr/access to information/administrative**

به دست آورده ، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر مورخ ۱۴۰۲/۴/۲۷ ریاست تدارکات ریاست عمومی اداره ۱.۱.۱. واقع محوطه (تعمیر اسبق ) وزارت معدن تعیر ریاست تدارکات ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.تضمین آفر به طور گرنتی بانکی مبلغ (۴۱،۰۰۰) چهل و یک هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی مورخ ۱۴۰۲/۴/۲۷ به ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر در صالون جلسات ریاست تدارکات تدویر می گردد.۱۴۰۳

## دعوت به داوطلبی (آفرگشائی)

نام پروژه : اجاره دهی ۹۵۰ مترمربع زمین واقع قلعه هزاره های چنداول ناحیه اول ولایت کابل .ریاست کابل برشنا ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا درپروسه داوطلبی (افر گشائی) ۹۵۰ متر مربع زمین که واقع هزاره های چنداول سینما پامیر ناحیه اول ولایت کابل موقعیت دارد اشتراک نموده ونقل شرطنامه را از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱یوم از مدیریت تهیه وتدارکات کابل برشنا بدست بیاورند ، آفر های ناوقت رسیده قابل پذ یرش نمیباشد .

۱-جلسه مزایده : روز شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهرمورخ ۱۴۰۲/۰۳/۲۰ برگزارمیگردد .

۲ - آدرس و محل مزایده : منزل سوم اطاق کنفرانس ریاست کابل برشنا .

۳ - کود نمبر :

**DABS/ KBD/۱۴۰۲/ RENT -۰۰۲**

٤- اخذ شرطنامه در بدل مبلغ ۵۰۰ پنجصد افغانی پول بدون بازگشت،

۵ - از هریک درخواست کننده در روز مزایده مبلغ (۵۰۰۰۰۰) پنجصد هزار افغانی طور تضمین نقداً اخذ می گردد، که بعد از پروسه مزایده (به استثنای داوطلب برنده ), فی المجلس مسترد میگردد.

برای معلومات بیشتربه شماره ذیل تماس گیرید .

شماره تماس :۰۷۲۹۰۰۳۷۹۰

آدرس الکترونیکی : **zia.ahmady@kbd.dabs.af**

۱۳۸۲

## اطلاعیه عام تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، آمریت تدارکات وزارت امور شهدا و معلولین در نظر دارد، قرارداد تهیه و تدارک دو نوع تیل دیزل و پطرول مورد ضرورت وزارت امور شهداء و معلولین برای سال مالی ۱۴۰۲ دارنده نمبر تشخیصیه **/MMD/۱۴۰۲ NCB/G-۰۱** را به شرکت دولتی مواد نفتی و گاز افغانستان، محل اصلی تجارت ناحیه۱۷، سرکوتل خیرخانه، کابل-افغانستان به قیمت مجموعی مبلغ (۳،۳۳۸،۰۰۰) سه میلیون و سه صد و سی و هشت هزار افغانی اعطاء نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین واقع {سرک میدان هوائی کابل، ایستگاه قلعه خیاط} وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

## اطلاعیه به کرایه دهی

وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی یک باب خانه مسکونی را واقع مهتاب قلعه دشت برچی در مربوط ناحیه ششم شهر کابل که شامل ملکیت های مازاد این وزارت می گردد به قرارداد می سپارد و از تمام داوطلبان ( اشخاص و شرکت ها ) واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی به کرایه گرفتن جایداد مذکور اشتراک نمایند .

بناء متقاضیان محترم درخواستی های خویش را مطابق شرطنامه ، طبق قانون و بعد از نشر اعلان الی ۲۱ روز تقویمی ارایه نمایند.

شرطنامه از آدرس ذیل قابل دریافت می باشد :

پل باغ عمومی ، تعمیر هجده منزله وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی ، منزل چهاردهم ، مدیریت عمومی املاک.

تسلیمی درخواستی از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز مدار اعتبار می باشد.

زمان جلسه داوطلبی :

یک روز بعد از ختم اعلان در صورت رخصتی و یا جمعه اولین روز رسمی بعد از آن.

مکان جلسه داوطلبی :وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی ، واقع پل باغ عمومی. ۱۳۷۱

## اعلان دعوت به داوطلبی

شماره داوطلبی:

(NSIA/۱٤۰۲/NCB/G.۰۱)

اداره ملی احصائیه و معلومات از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی بازداخلی تهیه و تدارک رنگ پرنتر و قرطاسیه باب مورد نیاز اداره ملی احصائیه و معلومات بابت سال مالی ۱٤۰۲ اشتراک نموده و شرطنامه آنرا به شکل سافت و بطور رایگان از آمریت تدارکات اطاق نمبر A-٤۰ منزل اول اداره ملی احصائیه و معلومات واقع ناحیه هفتم، سرک چهلستون، نزدیک باغ بابر کابل بدست آورده و آفرهای خویش را مطابق به شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طوری سربسته، از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر روز سه شنبه مؤرخ ۲۷ سرطان ۱٤۰۲ به ریاست تدارکات این اداره ارایه نمایند، آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد. تضمین آفر به شکل تضمین بانکی به ارزش مجموعی مبلغ ۱۸٤،۵۵٦ یکصد و هشتاد و چهار هزار و پنجصد و پنجاه و شش افغانی بوده و جلسه آفرگشایی آن به ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر روز سه شنبه مؤرخ ۲۷ سرطان ۱٤۰۲ در تالار کنفرانس های اداره ملی احصائیه و معلومات تدویر میگردد.

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدین وسیله به تاسی از فقره (۲) ماده (٤۳) قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود که { شورای طبی افغانستان } در نظر دارد : قرارداد (تدارک کرایه گیری دو دربند حویلی ( که قبلا داوطلبی گردیده بود تحت کود نمبر **AMC/PD/NCB/۱٤۰۲/NCS۰۳)** رابه مالک حویلی پیغله مریم خائی ولد محمد اکبر دارنده قباله شرعی نمبر : ۱۳۹٤/٥٤۹٤ واقع شهر نو رابه قیمت مجموعی مبلغ (۱۰۰۹۹٥٤ ) یک ملیون نو هزار و نو صد پنجاو چهار افغانی لات اول و به مالک حاجی محمد ابراهیم ولد محمد گل دارنده قباله شرعی نمبر: ۱۹٤/۲٤ واقع سرک ده وزیر محمد اکبر خان را به قیمت مجموعی (۱۰٤۹٤۰۰ ) یک ملیون چهل نو هزار و چهارصد افغانی لات دوم اعطا نماید. اشخاص حقیقی وحکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشد، میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توآم با دلایل ان به شورای طبی واقع سرک پارک شهر نو کوچه اول عقب تعمیر شرکت MTNخانه ۱٤۷ ، وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

موضوع: نشر اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد، تدارک پروژه کرایه گیری موتر ها برای انتقال شاگردان انستیتوت ناشنوایان کابل در سال تعلیمی ۱٤۰۲ بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی در نظر دارد، قرارداد تدارک پروژه کرایه گیری موتر ها برای انتقال شاگردان انستیتوت ناشنوایان در سال تعلیمی ۱٤۰۲، دارای شماره تشخیصیه TVET-A/NCB/NCS-۱٤۰۲/۱۱ را با شرکت خدمات لوژستیکی احمد راشد سخی زاده به قیمت مجموعی ( ۱،۸۳۸،۷٦۰ ) یک میلیون و هشت صد و سی و هشت هزار و هفت صد شصت افغانی عقد قرارداد نماید.اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تدارکات، اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی، واقع ناحیه سوم شهر کابل، جوار وزارت تحصیلات عالی، وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

## اعلان داوطلبی

{ پروژه اعمار تعمیر اداری ریاست تنظیم ترانسپورت جاده ای ولایت پکتیا **MOTA/۱٤۰۲/NCB/W-۰۱}**

وزارت محترم ترانسپورت و هوانوردی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه اعمار تعمیر اداری ریاست تنظیم ترانسپورت جاده ای ولایت پکتیا MOTA/۱٤۰۲/NCB/W-۰۱اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط را در حافظه یا فلش دسک مستقیماً از وزارت ترانسپورت و هوانوردی بدست آورده, آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز تقویمی ریاست تدارکات/ آمریت تدارکات / وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصاری وات شش درک جوار رادیو تلویزون ملی ارائیه نمایند آفر های ناوقت رسیده و انتر نیتی پذیرفته نمی شود. تضمین آفر بانکی مطابق به مندرجات شرطنامه اخذ میگردد.۱٤۰۷

## اعلان دعوت به داوطلبی

عنوان: تهیه و تدارک تایر،چاین و بطری باب مورد ضرورت ریاست حفظ و مراقبت سالنگها بابت سال مالی ۱٤۰۲ به اساس قرارداد بالمقطع.وزارت فواید عامه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه (تهیه و تدراک تایر،چاین و بطری مورد ضرورت ریاست حفظ و مراقبت سالنگها) که دارای نمبر تشخصیه**MOPW/۱٤۰۲/G-۰٦/NCB** میباشد اشتراک نموده و آفر های سربسته خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه بعد از نشر اعلان ارایه نمایند.

ادرس حصول شرطنامه: شرطنامه را از ویبسایت وزارت فواید عامه و ریاست تدارکات ، واقع چهارهی صدارت، وزارت داخله سابقه، جوار اداره ملی احصایه و معلومات کابل- بدست اورده و تسلیمی آفر ها بتاریخ (۲۹/۰٤/۱٤۰۲) ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر که اخرین میعاد ضرب الاجل تسلیمی آفرها میباشد، صورت میگیرد . آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.

تضمین آفر: تضمین آفر به شکل بانک گرنتی/ نقدی به مبلغ ۳٦۰۰۰۰ سه صدو شصت هزار افغانی میباشد.

زمان آفرگشایی: (۲۹/۰٤/۱٤۰۲) ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز پنج شنبه.

محل آفرگشایی : وزارت فواید عامه، تالار جلسات مقام وزارت

نوت: درصورتیکه تاریخ ۲۹/۰٤/۱٤۰۲ سال جاری بطور غیر مترقبه از طرف حکومت رخصتی اعلان گردد جلسه آفرگشایی پروژه متذکره روز بعد کاری در همان ساعت و مکان مندرج مکتوب هذا برگزار میگردد.

---

## آداب وضوء...

حمد و ثنا خداوندﷻ را بیان کردن.

۳. شورع دعا با ذکر اسماء الله تعالی.(اسماء الحسنی)

٤. در دعا باید بر پیامبر اکرم درود گفت.

۵. دعا کننده هنگام دعا کردن صورت خود را به سمت قبله برگرداند.

٦. در هنگام دعا دست ها را بالا کند.

۷. در وقت دعا باید به خدا ایمان کامل داشت که حتماً خداوند دعای مرا می پذیرد.

۸. درخواست خود را چندین بار تکرار کند.

۹. مسلمان هنگام دعا باید بسیار عاجزی داشته باشد; زیرا دعا کردن به این معناست که من بسیار عاجز و ضعیف هستم.

۱۰. در هنگام دعا کردن نباید عجله قبولی آن را کند.

۱۱. در هنگام دعا، دل و ذهن به سوی خدای یگانه معطوف شود.

۱۲. بهترین و شریف ترین اوقات را برای دعای خود انتخاب کنید.

۱۳. دعا نباید برای چیزهای طلب شود که حرام باشد.

۱٤. مسلمان قبل از دعا باید وضو بگیرد.

۱۵. بنده مسلمان با خواندن دعا باید از تمام نافرمانی ها و گناهان توبه کند و پس از آن تصمیم بگیرد که آن نافرمانی ها و گناهان را انجام ندهد.

۱٦. دعا برای خود، پدر و مادر، برادران، خواهران و همه مردان و زنان مسلمان، چه مرده و چه زنده باشد.

۱۷. باید از بد دعائی به خود، اموال، خانواده و دیگران خودداری کنید.

۱۸. در دعا باید به درگاه خدا روی آورد.

۱۹. دعا با کلمات خوب و جامع باشد.

۲۰. دعا وقتی به خوبی پذیرفته می شود که دعا کننده از حرام دوری کند.

۲۱. دعا کننده باید در پاکی لباس و غذا و امور خود کوشا باشد; زیرا لباس و مال و امور حرام از دلایل عدم پذیرش دعا محسوب می شود.

۲۲. در دعا غیر از خدا نباید از کسی دیگر طلب کرد.

۲۳. در حال دعا، صدای خود را معتدل نگهدارید، یعنی نه زیاد بلند و نه زیادآهسته باشد.

۲٤. در وقت دعا، بزرگی ، یگانگی و عظمت خداوند را به دل بیاورید که جز خداوند ﷻ دعای مرا کسی دیگر نمی پذیرد و من به دیگری محتاج نیستم.

**په بشري ټولنه کې...**

محسوساتو ته ډېر اهمیت ورکوي . هغه زیان چې پر یوه وګړي مرتب کېږي، نو څرنګه چې هغوی ته هغه په محدوده توګه محسوسېږي په دې خاطر هغه یو سترکار ګڼي ، خو دوی دهغه زیان اهمیت نه شي درك کولی چې په پراخه پیمانه ټولې ټولنې او دهغې را تلونکو نسلونو پورې غځېږي، ځکه چې هغه زیان دخپل پراخوالي او لرې زیبښو پر اساس نه شي محسوسېدای.

۲- دقذف حدیا دتهمت لګولو سزا : کوم زیانونه چې دزنا له لارې را پیدا کېږي، نو دهمغو په څېر زیانونه دزنا له تهمت یا قذف څخه هم منځته راځي ، دیوې شریفې ښځې پر لمن دزنا دتهمت داغ لګول یوازې دهغې دبدنامولو موجب نه ګرځي، بلکې دهغې په واسطه دکورنیو ترمنځ ددښمنی یوه لړۍ پیلېږي ، نسبونه شکمنېږي ، ازدواجي اړیکې له منځه ځي او یو کس یواځې یو ځلي دژبې په خوځولو سره په لسګونو نور انسانان په کلونو کلونو ددښمنۍ په عذاب کې ورغورځوي . قرآن کریم ددې جرم دله منځه وړلو په خاطر سخته سزا ټاکلې او فرمايي ،ژباړه: کوم خلك چې پر پاك لمنو ښځو تهمت و لګوي او بیا دخپلې خبرې دثبوت لپاره څلور شاهدان را نه ولي، هغوی اتیا درې ووهئ او په راتلونکې کې دهغوی ګواهي کله هم و نه منئ ، دغسې خلك په خپله بدکاران دي.

**لوی اختر ته مو کلک...**

چې داختر په ورځو کې به ددغه وزارت خدماتي اداري لکه اطفایې، ۳۰۰ بستریز روغتون او دپولیسو ۱۱۹ شمېره داحتمالي پېښو دمخنیوي لپاره فعاله وي. (( دخلکو دروحي او رواني حالت دښه ساتلو په هدف داختر په ورځو کې هوايي ډزې او دپټاکۍ استعمالول منع دی او هر هغه څوک چې سرغړونه وکړي، قانوني چلندبه ورسره وشي.))یو شمېر هیوادوال بیا وايي، کوچنی اختر یې په خوشحالۍ او بشپړ امنیت کې تېر کړی او اوس هم له ټولو امنیتي ادارو او ځواکونو تمه لري ،چې دلوی اختر په ورځو کې هم پوره چمتوالی ونیسي او دخلکو ساتنه.دکابل اوسېدونکي موحدوايي: له امنیتي ځواکونو څخه مو غوښتنه دا ده ،چې دټولو خلکو امنیت ته جدي پام وکړي او له خلکو سره نرم چلندوکړي.نوموړی وايي: که دامنیتي ځواکونو چلندله خلکو سره ښه نه وي، که هر څومره جدي امنیتي تدابیر هم نیول شوي وي، خلک به له فکري او ذهني ارامتیا څخه بې برخې وي.(( زموږ هیله دا ده چې امنیتي ځواکونه بایدله خلکو سره نرم چلندوکړي چې په دې سره به خلک دفزیکي خوندیتوب تر څنګ له فکري او ذهني ارامتیا څخه هم برخمن شي.))دکابل ښار بل اوسېدونکي عبدلقهار هم داختر په شپو او ورځو کې دامنیت دټینګښت غوښتنه کوي او وايي: (( امنیتي ځواکونو په تېر اختر کې هم ښه امنیت نیولي و او خلک هم ترې خوښ وو، غواړو په لوی اختر کې هم ښه امنیتي تدابیر ونیسي.)) دکورنیو چارو وزارت تېر کال هم په دواړو اخترونو کې په ټول هیوادکې امنیتي تدابیر نیولي وو چې دخلکو له هرکلي سره مخ شول.

**د ولس ستونزو ته...**

دلومړنیو خدمتونو برابرولو په برخه کې دپام وړ کار نه دی شوی.په ورته وخت کې دریاست الوزراء سیاسي مرستیال او کفیل مولوي عبدالکبیر وویل ، چې داسلامي.

امارت په استازولۍ دشینوارو په ګډون دننګرهار له ټولو ورونو قومونو مننه کوي، چې تل یې دنظام دټینګښت په موخه همکاری کړې دي. نوموړي زیاته کړه، چې دملت او حکومت تر منځ واټن ختم شوی او دا داسلامي امارت دمسئولینو دنده ده، چې دخلکو ستونزې، دخپلو امکاناتو په محدوده کې په وخت حل کړي.درياست الوزراء کفیل دشینوارو دقومي مشرانو دوړاندېزونودعملي کولو په برخه کې اړوندو ادارو ته دلازمو لارښوونو ډاډ هم ورکړ.

**ترکیه له افغانستان ...**

دترسره کېدونکو همکاریو او په دې برخه کې ددواړو هیوادونو دازموینو ادارو دمسئولینو ترمنځ پر ښې همغږۍ ټینګار وکړ.حقاني په دغې کتنه کې په اوسنیو شرایطو کې دترکیې ښوونیزې او تخنیکي همکارۍ، دافغانستان لپاره ارزښتمنې وبللې.نوموړي ډاډ څرګندکړ، چې په نږدې راتلونکي کې به دترکیې دازموینو ادارې(OCYME) تخنیکي مسئولین افغانستان ته راشي او دآزموینو دملي ادارې بېلابېلو برخو څخه دلیدنې په ترڅ کې به، ددې ادارې دکارکوونکو لپاره دکانکور ازموینو دنویو سېستمونو دتطبیق په برخه کې دروزنې پروګرامونه جوړ کړي.

دیادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم په افغانستان کې دترکیې سفیر او همدارنګه دیادهیواددازموینو ادارې له لوري راغلي پلاوي دازموینو دملي ادارې له مشرتابه سره لیدنې کړې او دکانکور آزموینو سیستم دنوي کولو او معیاري کېدو په برخه کې یې دهمکارۍ ډاډ ورکړی و.

**وزارت مهاجرین ...**

((برګزاری کورسهای آموزش زبان، پروګرام های کمپیوتر، حساب داری، تعلیم و تربیه، خیاطی، دست دوزی، برنامه های آګاهیدهی و خدمات روان درمانی در ولایتهای کابل، غزنی، میدان وردګ، پروان، کاپیسا، پکتیکا، کندهار،زابل هلمند، نیمروز، هرات، فراه، بادغیس، ننګرهار، کنر و نورستان جز برنامه های کاری این دو موسسه است.ګفتنی است که پیش از این نیز برخی از موسسات بینالمللی در بخشهای موادغذایی، ایجادسرپناه، ارایه خدمات آموزشی و صحی به مردم افغانستان کمک کردهاند.

**افغانستان ته د بهرنیو...**

برابرول په ګوته شوي. درسمي شمېرو له مخې، په روان کال کې لرغونو او تفریحي سیمو ته دورغلو کورنیو سیلانیانو شمېر ۲۶ میلیونه تنو ته رسېږي ،چې دتېر کال په پرتله درې برابره زیاتوالی ښيي. داطلاعاتو او فرهنګ وزارت پخواني ویاندعبدالمتین قانع وايي: پر امنیت سربېره دګرځندوي برخه کې دنوې پالیسي جوړول او په دې برخه کې دآسانتیاوو برابرول دګرځندوی صنعت دغوړېدو لامل شوي.

**په یوه شپه او ورځ ...**

کې ژوندکوو ،چې دبرښنا دپرچوۍ له امله اوبو ته هم لاسرسي نهلرو.))بله خوا دبرښنا شرکت مسئولین بیا وايي ،چې کابل کې برښنا ته دډېرې تقاضا له امله پرچاوي هم ډېره شوې ده. دبرښنا شرکت ویاندحکمتالله میوندي وايي: اوس وخت کې دغه شرکت کولای شي چې کابل کې یوازې له ۷۰ تر ۷۵سلنه برښنا برابره کړي.ده وویل: (( په هغې اندازه چې برښنا په پام کې نیول شوې، تقاضا ورته ډېره ده او له دې امله ،چې دبرښنا مزو کې خرابوالي رانهشي او ټرانسفرمرونه یې خراب نهشي، اړ یو چې پرچوي رامنځته کړو.))دبرښنا شرکت دمعلوماتو له مخې، دا مهال دپلازمېنې اوسېدونکو ته دبرښنا رسونې لپاره څه باندې ۴۲۲ مېګاواټه برښنا ته اړتیا لري، خو دغه شرکت یوازې په یوه شپه او ورځ کې د۳۲۴ مېګاواټه برښنا دبرابرولو وړتیا لري.

**۳۸۰۰ افغان کورنۍ...**

خانې کیت او نغدي مرستو په برخه کې هرې کډوالې کورنۍ سره مرسته کوي.په تورخم کې ځايي مسئولین وايي، چې دIOM یا دکډوالۍ دنړېوال بنسټ له لوري کډوالو ته یو ځانګړي کارت ورکول کېږي ،چې په راتلونکې کې ټول موسسات له دغو کډوالو سره دخوراکي او غیر خوراکو توکي مرسته کوي او اړوندې کورنۍ په هغه ولایت کې چې دوی پکې ژوندکوي سروې کوي او ددوی لومړنیو ستونزو ته په کتو ورسره مرسته کوي. دیادونې وړ ده، چې ځايي مسئولینو همدارنګه په افغانستان کې داسلامي نظام حاکمېدل، دسرتاسري امنیت ټینګښت، دهغوی ستونزو ته پر وخت رسېدنه او کډوالو ته دکاري فرصتونو زمینه برابرول هیوادته دکډوالو دبېرته راستنېدو نور لاملونه بللي دي.

**د عامې روغتیا وزارت...**

ددرملنې مرکز هم فعال شي ،چې متخصص ډاکټر به پهکې شتون ولري. )) یادې متخصصې ډلې تازه په ارزګان کې دسترګو د۵۰۰ ناروغانو ددرملنې بهیر پیل کړی دی. دیادولایت په دهراوودولسوالۍ کې هغه کسان ،چې دامهال یې دسترګو ناروغیو درملنه کېږي، خوښي څرګندوي ،چې وړیا عملیات یې کېږي. دوی زیاتوي ،چې دبېوزلۍ له امله یې دخپلو سترګو ددرملنې توان نه درلود.دوی له حکومت څخه غوښتنه کوي ،چې په راتلونکې کې هم بایددغه ډول روغتیایي ټیمونه ددوی سیمو ته ورولېږدوي.دعامې روغتیا وزارت داسې مهال دهیوادپه ۱۷ ولایتونو کې دسترګو دناروغانو وړیا عملیاتونه کوي ،چې له دې وړاندې هم یوشمېر بنسټونو او موسسو په خپل مالي لګښت ولایتونو کې دسترګو دناروغانو عملیاتونه کړې دي.

**سږ کال پاکستان ته...**

چې د اقتصادي فعالیتونو کچه به د دواړو هیوادونو ترمنځ نوره هم پراخه شي.د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویاند عبدالسلام جواد آخوندزاده وايي: موږ تېر کال پاکستان ته د یو اعشاریه دوه میلیاردو ډالرو په ارزښت صادرات درلودل او اوس هم د تورخم، غلام خان او سپین بولدک څخه صادرات روان دي. هیله لرو، چې په روان کال کې به د دواړو هیوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکي نورې هم پراخې شي.د خصوصي سکتورغړي د اسلامي امارت بهرني سیاست اقتصاد محوره بولي او د سکتوري بنسټونو له مسئولینو غوښتنه کوي، چې د پاکستان په ګډون له ټولو ګاونډیو هیوادونو سره ښې سوداګریزې او ترانزیتي اړیکې تنظیم او دې بهیر ته نوره هم پراختیا ورکړي.

**د بلخ دهدادي ولسوالۍ...**

، چې بهرنیو هیوادونو ته د درملنې لپاره د افغانانو د تلو مخنیوي لپاره هڅه کوي ،چې هیواد کې روغتیایي خدمتونه پراخ او معیاري کړي.بلهخوا د دهدادي ولسوالۍ د کودو برق سیمې اوسېدونکي د یاد روغتون له جوړېدو خوښي څرګندوي او وايي، چې له دې وړاندې له ګڼو روغتیايي ستونزو سره لاس او ګرېوان وو ،چې اوس یې دغه ستونزې حل شوي دي.

**حاصلات گندم در تخار...**

به مراتب بیشتر میشد. نصرالله، یکی از این دهاقین میگوید: (( اگر ریاست زراعت برای ما کود و گندم بدهد، میتوانیم که حاصلات بیشتر بدست بیاوریم. کسی با ما همکاری نمیکند، امسال گندمها را با آنکه هوا زده، اما بازهم حاصلات خوب است.))خالد یکی دیگراز این دهاقین میگوید: (( امسال حاصلات کشت و کار بسیار خوب است. از مسئولین میخواهیم که برای ما کود و تخم اصلاح شده بدهند تا حاصلات ما بیشتر از این شود.))با این حال مسئولین در ریاست زراعت، آبیاری و مالداری تخار میگویند، که میزان کشت گندم امسال برابر با چند سال گذشته بوده، اما براساس بررسیها، دهقانان تقریبا از ۲ صد هزار هکتار کشت گندمهای للمی و آبی، نزدیک به ۴ هزار متریک تُن گندم برداشت خواهند کرد. فیضالله فروتن، آمر امور زراعتی ریاست زراعت، آبیاری و مالداری تخار میگوید: (( امسال درحدود ۶۵ هزار و ۴۳۰ هکتار زمین تحت کشت گندم داریم که تولیدش ۱۸۵ هزار متریک تُن می رسد. همچنان ۱۳۲ هزار هکتار زمین تحت کشت گندم للمی داشتیم که حدود ۲۰۰ هزار تُن حاصل از آن بدست آمده است. این نسبت به سال گذشته ۵ درصد افزایش را نشان میدهد.))به گفتهٔ مسئولین ریاست زراعت، با آنکه در اثر حوادث طبیعی برخی فر آوردههای زراعتی در تخار آسیب دیده، اما امسال نسبت به سال گذشته آب و هوا خوبتر و بارندگیهای به موقع، سبب افزایش محصولات زراعتی شده است.

گفتنی است که این زمان فصل برداشت گندم و کاشت نهال شالی در ولایتهای شمالشرقی کشور میباشد که هزاران تن را سرگرم کار کرده است.

**سږ کال مو ۹۰ زره افغانان...**

ایران ته تللي افغان کډوال د دې هیواد د پولیسو له ناسم چلنده تل سر ټکوي. د ایرنا خبري اژانس د معلوماتو له مخې په ایران کې پنځه میلیونه افغانان اوسېږي. ایراني چارواکو دې خبري اژانس ته ویلي چې له دې ډلې یوازې ۵۰۰ زره یې ایران کې د اوسېدو قانوني سندونه لري.

**په لوګر کې پر نسناستي...**

تر ۳۰ سلنه پورې لوړه شوې..)) د لوګر یوشمېر اوسېدونکي هم وايي، د هوا د تودوخې درجې په لوړېدو سره سلګونه ماشومان پر نسناستي ناروغي اخته شوي او ځینو یې د دغې ناروغي له امله خپل ژوند هم له لاسه ورکړی.دوی ټینګار کوي چې د عامې روغتیا وزارت دې د مرکز پلعلم او ولسوالیو روغتیایي مراکزو کې د ناروغانو د درملنې لپاره خپلې آسانتیاوې دوه برابره کړي.د لوګر اوسېدونکي محمداتل وايي: (( زما درې ماشومان پر نسناستي ناروغي اخته شوي او اوس ولایتي روغتون کې تر درملنې لاندې دي. له دولت څخه مو غوښتنه ده ،چې د التمور دولتي روغتون کې ناروغانو ته زیاتې اسانتیاوې رامنځته کړي. )) په ورته وخت کې د لوګر د عامې روغتیا ریاست ویاند فهیمالله لودین وايي: د پخوا په پرتله ماشومانو کې د نسناستي ناروغۍ ۳۰ سلنه لوړه شوې او هڅه کوي ،چې روغتونونو کې د درملنې آسانتیاوې زیاتې کړي.ده وویل: (( د هوا د تودوخې په لوړېدو سره او همدارنګه د ډول ډول مکروبونو په فعالېدو سره د نسناستي ناروغي زیاته شوې ده. همدا وروستیو څو شپو ورځو کې په ماشومانو کې شاوخوا ۳۰سلنه د نسناستي ناروغي زیاته شوې او ډېر ناروغان اوس په دولتي روغتونونو کې تر درملنې لاندې دي.)) نوموړی زیاتوي ،چې د ماشومانو کورنۍ هم باید روغتیایي لارښوونې په پام کې ونیسي او کوم ماشومان چې په نسناستي ناروغۍ اخته شوي، ژر تر ژره نږدې روغتونونو ته د درملنې لپاره ولېږدوي.

**په جوزجان کې زیاته...**

کې ۲ زره ۸۰۰ ګرامه نیښه، ۵ کیلوګرامه تریاک، ٦ کیلوګرامه چرس، ٥٣٥ ټابلېټ کا ګولی، ٤٢٢ لېټره الکولي مشروبات او ٦٢٠ لېټره خمیره شوي کشمش سوځولي دي.آخندزاده زیاته کړه، چې په دغه ولایت کې به چاته د نشه یي توکو د کرکیلې، پېر او پلور اجازه ورنه کړي.هېره دې نه وي، چې له دې وړاندې هم په بېلابېلو ولایتونو کې زیاته اندازه بېلابېل ډوله نشه یي توکي سوځول شوي دي.

**چمتو وو چې له روسیې...**

د ویلو ده چې په روسیه کې د واګنر ملیشې له بغاوت وروسته ولسمشر ولادیمیر پوتین د ترکیې، ایران، بیلاروس، قزاقستان، ازبیکستان او یو شمېر نورو هیوادونو له مشرانو سره تلیفوني تماسونه نیولي وو.

**روسیه کې د کودتا هڅه ...**

(دوی ته به خامخا د خپلو کړو وړو سزا) ورکول کېږي او پاتې نور به یې په روسي پوځ کې ځای پر ځای شي. د روسیې د ولسمشرۍ ماڼۍ د ویاند په خبره ولسمشر پوتین حالات له نېږدې څاري او د اوس لپاره د واګنر د مشر پر خلاف د انتقامي کاروايي کوم نیت نه لري؛ خو د یادې ډلې د مشر قضیه د سترې محکمې اړوند یوې نظامي محکمې ته لیږل شوې ده که محکمه یې پړ وپېژني بیا یې حکومت له نیولو پرته بله لاره نلري.د ویلو ده، چې وړمه شپه ناوخته د واګنر زرګونو جنګیالیو په اوکراین کې خپل سنګرونه خوشې کړل او اوکراین سره یې پر پوله پراته د روسیې دوه ښارونه ونیول او پلازمینې مسکو ته یې د تللو هڅه کوله چې د روسي ځواکونو د سخت بمبار د له امله ونه توانیدل چې مسکو ته ورسېږي مشر یې وتښتېده او زرګونه جنګیالي یې روسي ځواکونو ته تسلیم شول.

**په پکتیکا کې یو سړک...**

په ورته وخت کې د ټولګټو چارو رئیس مولوي محمد اکبر عادل وویل، چې په دغه حلقوي سړک ۳میلیونه افغانۍ لګښت راغلي، چې د ولایت مقام له لوري ورکړ شوې وې.د یادونې وړ ده، چې د سیمې یو شمېر اوسېدونکو هم له باختر اژانس سره په خبرو کې د یاد سړک په رغېدو خوښي څرګنده کړه او په وینا یې پر دې سره یې د تګ راتګ په برخه کې ګڼې ستونزې هوارې شوې.

**د سوریې پر ادلب ...**

په ورته مهال د سوریې د بشري حقونو سازمان چې مرکز یې په لندن کې ده د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره یې ویلي، چې د روسیې وروستي هوايي بریدونه د سوریې د حکومت په غوښتنه په هغه بازار شوي چې خلکو پکې د اختر لپاره سودا اخیستله.

د خبر پاڼې له مخې په یادو بریدونو کې ۴۹ کسان وژل شوي او تر ۲۰۰ ډېر نور ټپیان دي.

Hewad Daily

دوشنبه د ذوالحجه الحرام ۷ مه ۱٤٤٤ ق کال د ۱٤۰۲ ل کال د چنګاښ ۵ مه د 2023 م کال د جون 26 مه

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷٤۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: ۰۲۰-۲۵۲٦۳۱۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انترنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب: سایټ www:dailies.gov.af/hewad
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰٦۹

# سږکال پاکستان ته د ٦۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت صادرات شوي

د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسئولینو ویلي: د روان میلادي کال په لومړیو شپږ میاشتو کې پاکستان ته د٦۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت صادرات شوي دي.پاکستان ته د صادراتو د زیاتوالي په اړه د سوداګرۍ اوپانګونې خونې مسئولینو ویلي، چې د ۲۰۲۳ میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې پاکستان ته د څه باندې شپږ سوه میلیونو ډالرو په ارزښت صادرات شوي دي.د سوداګرۍ او پانګونې خونې غړي خانجان الکوزي وایي: د روان میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د هیواد په صادراتو کې منظمه پرا ختیا راغلې. که څه هم د پاکستان د مرکزي بانک لخوا افغانانو ته ستونزې جوړېږي؛ خو بیا هم د څه باندې ٦۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت صادرات تر سره شوي دي.نوموړې زیاتوي، چې د



دې صادراتو ډېره برخه غالۍ، وچه میوه، قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې دي.خصوصي سکتور ډاډ څرګندوي او وایي: ورځ تر بلې د هیواد صادرات د پراختیا په حال کې دي او د تازه میوو د نوي فصل په رسیدو سره به د هیواد د صادراتو کچه نوره هم لوړه شي.د صنعت اوسوداګرۍ وزارت ویلي، چې په روان کال کې له پاکستان سره د سوداګرۍ او صادراتو بهیر په منظم ډول پرمخ روان دي او د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا لپاره به هڅې نورې هم زیاتې شي.دوی وایي، چې تېر کال یې یو اعشاریه دوه میلیاردو ډالرو پر ارزښت پاکستان ته صادرات تر سره کړي. په روان کال کې هم له پاکستان سره په منظم ډول صادرات او واردات روان دي اوهیله ده... ۷مخ

# د بلخ دهدادي ولسوالۍ کې ۵۰ بستریز روغتون ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د بلخ د عامې روغتیا ریاست مسئولین وایي، چې د دغه ولایت د دهدادي ولسوالۍ په ((کودو برق)) سیمه کې یې یو ۵۰بستریز روغتون ګټې اخیستنې ته سپارلی دی.د بلخ د عامې روغتیا رئیس نجیب‌الله توانا وایي ،چې دغه روغتون د عامې روغتیا وزارت له لوري د ۱۰۹ میلیونو افغانیو په لګښت جوړ شوی دی.توانا وایي، چې د یاد روغتون په جوړېدو سره د کودو برق سیمې څه باندې ۱۰۰۰ کورنیو ته د روغتیایي خدمتونو زمینه برابره شوې ده.د بلخ د عامې روغتیا د رئیس په وینا، هڅه کوي چې



د یاد ولایت لرې پرتو سیمو ته روغتیایي خدمتونه پراخ کړي او زیاتوي چې دغه روغتون کې مجهز امکانات او مسلکي روغتیایي کارکوونکي پر دندو ګومارل شوي دي.په ورته مهال د یاد روغتون د پرانیستلو پر مهال د عامې روغتیا وزارت مالي او اداري معین محمداسحاق اخندزاده وویل... ۷مخ

# په لوګر کې پر نس‌ناستې د اخته ماشومانو شمېر زیات شوی



د لوګر د ولایتي روغتون مسئولین وایي: د هوا په ګرمېدو سره په دې ولایت کې پر نس‌ناستې ناروغي د اخته ناروغانو شمېر ډېر شوی دی.دوی زیاتوي ،چې تېره یوه اونۍ کې ولایتي روغتون ته ۲۰۰ ماشومان چې پر نس‌ناستې ناروغي اخته وو، د درملنې لپاره یې مراجعه کړې ده.د لوګر د ((نایب امین‌الله خان)) ولایتي روغتون د ماشومانو متخصص ډاکتر صفي‌الله سلیمانخېل وایي: ((د هوا په تودېدو سره ماشومانو کې د نس‌ناستې ناروغي زیاته شوې، د تېرو اوونیو په پرتله له ۲۰سلنه څخه نیولې... ۷مخ

# سږکال پاکستان ته د ٦۰۰ میلیونو ډالرو

# مسئولین :

# حاصلات گندم در تخار افزایش یافته است

مسئولین در ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت تخار از افزایش حاصلات گندم در این ولایت خبر می‌دهند. به گفتهٔ آنان امسال در ولایت تخار ۱۹۷ هزار و ٤۳۰ هکتار زمین زراعتی گندم‌های آبی و للمی کاشته شدند که حاصلات آن به ۳۸۵ هزار متریک تُن خواهد رسید. از سوی دیگر شماری از دهقانان می‌گویند اگر آنان به تخم‌های اصلاح شده دسترسی می‌داشتند، حاصلات گندم امسال بیشتر از این می‌شد.با آنکه سیلاب‌های موسمی در بهار به مزارع گندم در مرکز



وشماری از ولسوالی‌های تخار دهاقین را متضرر کرده است، اما به گفتهٔ مسئولین حاصلات گندم دراین ولایت امسال افزایش یافته است .این درحالی است که شماری از دهاقین می‌گویندکه در شروع سال آنان با کمبود تخم‌های اصلاح شده روبه‌رو بودند، حاصلات گندم امسال... ص۷

# ایران:

# سږ کال مو ۹۰ زره افغانان بېرته افغانستان ته ستانه کړي

ایراني چارواکو ویلي، د روان هجري لمریز کال له پیله د ایران له بېلابېلو سیمو څه باندې ۹۰ زره افغانان را ټول کړای شوي او د دوغارون بندر له لارې افغانستان ته استول شوي دي. چارواکو ویلي ،په دې ډله کې ځینو په خپله خوښه ځانونه پولیسو ته تسلیم کړي او ځیني نور تهران او نورو سیمو کې د پولیسو له خوا راټول کړای شوي دي. څو ورځې وړاندې په هرات کې د کډوالۍ اداري چاروکو ویلي وو، چې د اسلام کلا بندر له لارې هره اوونۍ شاوخوا ۱٤زره افغان کډوال هیواد ته را ستنېږي. ... ۷مخ

# بغلان کې لس لرغوني سیمې کشف شوې دي

د بغلان ولایت ځایي چارواکي وایي، چې په دې ولایت کې لس لرغوني سیمې کشف شوې دي. ددې ولایت د لرغونپوهنې رئیس وایي،چې د دغه ریاست مسلکي پلاوي په تاله او برفک ولسوالۍ کې ۱۰ لرغوني سیمې، چې په اسلامي او کوشاني دورو پورې تړاو لري کشف کړې دي.د نوموړي په خبره د تازه کشف شویو لرغونو سیمو په تړاو د لا زیاتو معلوماتو د راټولولو هڅې رواني دي.

# په زابل کې سلګونه د اوبو واړه بندونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول

د زابل د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست وایي، چې ۱ زرو ۷۵۰ لوی او واړه چک ډېمونه په دې ولایت کې رغول شوي دي. د یاد ریاست په خبره، دغه چک ډېمونه د دې ولایت په شینکۍ ولسوالۍ کې د خوړو نړیوال پروګرام په مالي ملاتړ د ٦۷ میلیونو ۸۵۰ زره افغانیو په لګښت جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول. دغه راز په دې پروژو کې ۹۰۰ تنو ته د کار زمینه هم برابره شوې وه.

# ولسمشر اردغان:

# چمتو وو چې له روسیې سره مو د واګنر یاغیانو په ځپلو کې مرسته کړې وای



ولادیمیر پوتین له خپل ترکي سیال رجب طیب اردغان سره تلیفوني خبرې کړې.د ترکي رسنیو د راپورونو له مخې په دې تلیفوني تماس کې رجب طیب اردغان ولسمشر پوتین ته ډاډ ورکړی، چې هیواد یې چمتو وو چې په روسیې کې د واګنر یاغیانو په ځپلو کې مسکو سره مرسته وکړو... ۷مخ

# په جوزجان کې زیاته اندازه نشه يي توکي وسوځول شول

د غور د امنیې قومندانۍ اړوند د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې مدیریت د منسوبینو له لوري په ۱٤۰ قضیو کې نیول شوي بېلابېل ډوله نشه یي توکي وسوځول شول.د دغه ولایت د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې مدیر ملا محمد یونس آخندزاده باختر آژانس ته ویلي، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) له فرمان سره سم یې په دغه ولایت... ۷مخ

# روسیه کې د کودتا هڅه شنډه شوه او د واګنر ملېشه ځواکونو مشر بلاروس ته وتښتېد

له روسیې وروستي ورکړل شوي راپورونه وایي، چې په دې هیواد کې د ولسمشر پوتین د حکومت پر ضد د واګنر ملېشه ځواکونو لخوا د کودتا هڅه شنډه شوې او د یادې ملېشې مشر ((ایوګیني پریګوژین)) بلاروس ته تښتیدلی دی.د روسیې د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند په خپلو تازه څرګندونو کې ویلي، چې د واګنر اړوندو ځواکونو باندې یې له پلازمینې مسکو څخه کابو ۳۰۰ کلیومتره لرې هوایي بریدونه کړي، چې په پایله کې یې یادې ډلې ته درنه مرګ ژوبله اړولې او ځیني هغه سیمې او پوځي تاسیسات چې یاغیانو نیولي و اوس یې ولکه د روسي ځواکونو په لاس کې ده.د نوموړي په خبره د واګنر سلګونه هغه غړي نیول شوي، چې د کودتا په هڅه کې په یو نه یو ډول ښکیل وو... ۷مخ



# په پکتیکا کې یو سړک ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د پکتیکا ولایت د ټولګټو چارو ریاست له لوري د مرکز ښرني ختیځ لورته پر ۱۸ کیلو متره حلقوي سړک د جغل اچولو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.د پکتیکا والي مولوي فیض الله جمال د یاد سړک د پرانیستې پر مهال وویل ،چې په دې سره به په ښار کې د لویو موټرو تګ راتګ کم شي او ښاریانو ته به د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې شي.مولوي جمال وویل، دغه ۱۸کیلو متره سړک، چې د جغل اچولو چارې یې شاوخوا ۳ نیمې میاشتې وړاندې پیل شوې وې، د ولایتي ادارې په مالي ملاتړ یې چارې بشپړې او ګټې اخېستنې ته وسپارل شو... ۷مخ

# د سوریې پر ادلب ښار د روسیې هوایي بریدونه؛ ګڼو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې

له سوریې وروستي راپورونه وایي، چې د یاد هیواد په شمالي ادلب ولایت کې د روسیې په هوایي بریدونو کې لسګونو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.که څه هم د سوریې حکومت ادعا کوي چې په هوایي برید کې د حکومت



مخالف وسله وال په نښه شوي؛ خو د تحریر الشام وسله والې ډلې د حکومت ادعا ته په غبرګون کې ویلي، چې روسي جنګي الوتکو د ښارویو هغه مېله په نښه کړې ده چې خلکو پکې د راتلونکي لوي اختر لپاره ښاروي اخیستل.... ۷مخ